بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# سپارښت لیک

دشرعیاتوپوهنځي دریاست محترم مقام ته

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

محترما:

محتــرم محمدشــریف دحــاجي عبــدالعلیم ځــوي د ۱۳۸۹ ه ش فــارغ تحــصیل دمونوګراف دلیکلو لپاره د (خلع احکام) تر عنوان لاندي موضوع زما تر اشراف لاندي تعین شوي ده .

دادي نوموړي اوس دغه موضوع دسریزي ، څلورو فصلونو ، خاتمي ، او دماء خذونو او مراجعو په ضمن کښي تکمیل کړي ده نوموړي دموضوع دلیکلو په دوران کښي په مسلسله توګه زما مشوري اخستي او هغه یي عملي کړي هم دي .

دمونوګراف مـوادیي دمعتمدو علمـي مراجعو څخه را ټول کړي دي ، اقتباسونه یي دعلمي معیارونو مطابق نقل کړي او هر قـول او نظر یي په پوره امانت داري دقول او نظر څښتن ته منسوب کړي ، دمونوګراف په لیکلو کښي یي سلیسه او روانه پښتوژبه کـارولي ، نـو دپورتنیوټکـو پـه نظـر کـښي نیولـو سـره زه دمحتـرم محمدشـریف دا مونـوګراف دلـسانس ددوري لپـاره کـافي بـولم او پـه داسـي حـال کـښي چـي پخپـل راتلونکي ټول ژوند کښي ورته دالله (ج) څخه دویریدلو توصیه کوم دلـوي خداي (ج) له دربارڅخه نوموړي ته په راتلونکي کي دلازیاتو بریاو هیله کوم .

پوهندوي فاروق الله (خالقیار)

۱۳۸۹/۳/۳۰

ketabton.com - The Digital Library

# دسرليکنو لړليک



| مخ | عنوان | ګڼه |
|---|---|---|
| ۱ | سريزه | ۱ |
| ٤ | اول فصل : دخلعي پيژندنه | ۲ |
| ٤ | لومړي مبحث : دخلعي تعريف | ۳ |
| ٥ | دوهم مبحث : دخلعي مشروعيت | ٤ |
| ۸ | دريم مبحث : دخلعي الفاظ | ٥ |
| ۹ | څلورم مبحث : دخلعي حکم | ٦ |
| ۱۱ | پنځم مبحث : دخلعي وخت او ارکان | ۷ |
| ۱٤ | دوهم فصل : دخلعي کيفيت | ۸ |
| ۱٤ | لومړي مبحث : دخلعي حقيقت او هغه څه چي په خلع باندي مرتب کيږي | ۹ |
| ۱٥ | دوهم مبحث : دخلعي شروط | ۱۰ |
| ۱۷ | دريم مبحث : دخلعي انواع | ۱۱ |
| ۱۸ | اول مطلب : دوالي دخلعي حکم | ۱۲ |
| ۱۹ | دوهم مطلب : دمريض دخلعي حکم | ۱۳ |
| ۲۱ | دريم مطلب : دسفيه دخلعي حکم | ۱٤ |
| ۲۱ | څلورم مطلب : دماشوم دخلعي حکم | ۱٥ |
| ۲٤ | څلورم مبحث : په خلع کښي دوکيل نيولو حکم | ۱٦ |
| ۲٤ | پنځم مبحث : دفضولي دخلعي حکم | ۱۷ |
| ۲٦ | دريم فصل : په خلع باندي دعوض اخستلو حکم | ۱۸ |
| ۲٦ | لومړي مبحث : عوض اخستل په خلع کښي | ۱۹ |
| ۲۹ | دوهم مبحث : خلع کول په مقابل دبعضي منافعو او حقوقو کښي | ۲۰ |
| ۲۹ | اول مطلب : خلع په رضاع باندي | ۲۱ |
| ۳۰ | دوهم مطلب : په معلومه موده کښي دماشوم په کفالت او سرپرستي باندي خلع کول | ۲۲ |

ketabton.com - The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | دریم مطلب : خلع په نفقه دصغیر باندي | ۳۱ |
| ۲٤ | څلورم مطلب : خلع کول په پاتي کیدو دماشوم تربلوغ پوري | ۳۲ |
| ۲۵ | دریم مبحث : هغه شیان چي دخلعي بدل نشي تاکل کیدي | ۳۲ |
| ۲٦ | څلورم مبحث : دطلاق باالمال او خلعي ترمینځ توپیرونه | ۳۵ |
| ۲۷ | **څلورم فصل : آثار او نتائج دخلعي** | ۳۷ |
| ۲۸ | لومړي مبحث : آثار دخلعي | ۳۷ |
| ۲۹ | دوهم مبحث : دمختلعي ښځي عدت | ٤۲ |
| ۳۰ | خاتمه | ٤٤ |
| ۳۱ | دماٰ‌ء خذونو او مراجعو فهرست | |

ketabton.com - The Digital Library

# سریزه

ان الحمدلله نحمده ونستعینه ونستغفره ونؤمن به ونتوکل علیه ونعوذ بالله من شرور انفسنا ومن سیات اعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له واشهد ان لااله الله وحده لا شریک له واشهد ان محمدا عبده ورسوله

امابعد:لکه څرنګه چي اسلام دبشریت اوانساني ټولني د ټولو اړخونو لپاره په هر وخت او هر ځاي کي دستونزو دهواري لپاره یو تر ټولو خورا غوره دین دي او د ژوندانه د هوساینې او خوښي لپاره پکي هر ډول غوره لاري چاري په ګوته شوي دي چي په پلي کیدا سره ئي ټولني هر وګړي د هوساینې او بریا تر موخي په اساني سره پوري وتي شي د مثال په دول اسلام ښځي ته ډیر په احترام قائل دي او ډیر حقوق ئي ورکړي دي او همدارنګه دستونزو سره د مخامخ کیدا په وخت کي ئي ورته شرعي لاره ښودلي ده اګر که دا مشکل دخپل خاوند سره هم وي نو دهغي سره دخپل ژوند د پاي ته رسیدو یا د خلاصیدو حق هم ورکړي البته یو څه قانوني اجرات ورته ټاکل شوي دي یعني که چیري ښځه د خاوند سره په کورني مشکلاتو که راګیره وي هغه کولاي شي چي دعوض په مقابل کي له دغه مشکل څخه ځان خلاص کړي نو څرنګه چه اسلامي نظام هراړخیزنظام دي نو د ښځو ددغه مشکل دحل لپاره خلع ته جواز ورکړ تر څو زوجین د کورني شخړو څخه خلاص شي

ددي موضوع دغوراوي لامل:

څرنکه چي مونږه په اوسني عصر کي دکورني مشکلاتو په رابطه ډیري خبري اورو خصوصآ دامشکلات زمونږ په ټولنه کي تر سترګو کیږي او په بل مقابل د اسلام دښمنان هم ډیر اعتراضونه کوي چه اسلام ښځو ته حقوق نه دي ورکړي خو دا خبره ددوي غلطه ده ځکه کوم حقوق چه اسلام ښځو ته ورکړي هغه هیڅ یو دین نه دي ورکړي چه د بیلکي په توګه یو هم خلع ده .

ketabton.com - The Digital Library

نو ددغه مشکلاتو په نظر کي نیولو سره ما دا غوره وګڼله چي دخلع داحکامو په موضوع باندي یو څه لیکنه وکړم ترڅو له یوي خوا دمونوګراف په ځاي منظور او له بلي خوا دغه ديني مسؤلیت اداء او د الله جل جلاله په دربار کي قبول شي.

د موضوع په اړه زما د کړنلاري څرنګوالي:

لکه څرنګه چي څرګنده ده چي ددي موضوع اکثره تړاو دفقهي رجالو او دفقي د معتبرو کتابونو سره دي نو ما هم لکه څرنګه چي ا‌ښکاره ده ددي موضوع دلیکني پر مهال د معنوي اقتباس څخه ډیر کار اخیستي او په اخر کي مي حواله دهغه په اصلي مصدر او یا هم مرجع باندي ورکړي،اوټول مواد مي له راجمع کولو وروسته دخپل وس او طاقت په اندازه په خپلو الفاظو لیکلي دي ، او په دي چاره کي مي له هیڅا پسي له ځانه څه ندي لیکلي چي موضوع مي په فصلونو او فصلونه مي په بحثونو او بعضي بحثونه مي په مطالبو ویشلي دي چي د موضوع لنډ پلان یعني خطه مي پدي توګه ده .

سریزه :چي پکي لمړني مهمي خبري یادي شوي لکه دموضوع شرعي حکم،حجم ،د انتخاب وجه او داسي نور.

لمړي فصل کي دخلع دپیژندني څخه یادونه شوي چي پدي فصل کي پنځه بحثونه دي.
لمړي بحث کي یي دخلعي تعریف دوهم بحث دخلعي مشروعیت دریم بحث کي دخلع الفاظ څلورم بحث کي د خلعي حکم پنځم بحث کي د خلعي وقت او ارکان ،دوهم فصل کي د خلعي دکیفیت ذکر شوي چه پکي پنځه پحثونه دي ،لمړي پحث کي د خلعي کیفیت او هغه څه چه په خلع باندي مرتب کیږي دوهم بحث د خلعي شروط ،دریم بحث د خلعي انوآع چه دا بحث څلور مطلب لري ،اول مطلب کي دولي خلع ،دوهم مطلب دمریض خلع،دریم مطلب دسفیه خلع، څلورم مطلب د ماشوم خلع او څلورم مبحث :په خلع کي دوکیل نیولو حکم پنځم بحث دفضلي دخلعي حکم .

ketabton.com - The Digital Library

اوّل فصل

# د خلعي پيژندنه

## لمړي مبحث د خلعي پيژندنه:

خلع دخلع يخلع څخه د مصدر صيغه ده چي د فتح يفتح په وزن راځي ماضي يي خلع او مضارع يي يخلع ده . (٢٨)ج ٢ ص ١٣٩٢

د خلعي لغوي تعريف: په لغت كي دخلع اطلاق په ګڼو معناګانو باندي كيږي چي ځينو ته يي په لاندي ډول اشاره كوو

الف: دكتور محمد معين و ايي چي خلع په لغت كي يوشخص د كار څخه شكولو ، جدا كولو ، لري كولو ته وايي.(٢٥)،ص ٦٢٣

ب:دكتوروهبه زحيلي فرمايي خلع په لغت كي ايستلو او لري كولو ته وائي او په عرف كي د زوجيت دقيد لري كولو ته خلع وايي .(٢٩)،ج٧ ،ص ٤٨٠

## د خلعي اصطلاحي تعريف:

د خلعي لپاره علماءكرامو مختلفو تعريفونه ذكر كړي دي چي مونږ يي دلته څو عمده تعريفونه ذكر كوو .

اول:علي بن محمد په خپل كتاب التعريفات كي داسي ليكي خلع هو ازالة الملک النكاح باخذالمال ، يعني دمال داخيستلو په بدل كي دنكاح د ملک له مينځه وړلوته خلع وايي.(٨) جلد ١ ص١٣٥

دوهم: د حنفي علما كرامو په نزد خلع لري كول د نكاح د ملكيت چي هغه موقوف دي د ښځي تر قبولولو پوري په لفظ د خلع سره او يا په داسي يو لفظ سره چي د خلعي په معني كي وي (٤) جلد ٣ ص٤٣٩

دريم : امام مالک (رحمه الله ) فرمايي خلع طلاق دي د مال په مقابل كي برابره خبره ده كه دغه مال د ښځي له طرفه وي او يا د ښځي د ولي له طرفه وي په لفظ د خلع سره .(٢)

ketabton.com - The Digital Library

په دي تعريف کي اشاره دي خبري ته دي چي خلع په دوه قسمه ده ، يو داچي خلع غالبا د مال په مقابل کي وي او دوهم دا چي جدايي راشي په لفظ د خلع سره بدون د مال ښځه (۲۹) جلد ۷ ص ٤٨٠

څلورم: امام شافعي (رحمه الله ) فرمايي خلع جدايي ده په مابين د ښځي او ميړه کي په مال سره که په لفظ دطلاق سره وي او که په لفظ د خلعي سره (۲٦) جلد ۱۳ ص ۱۷٦

پنځم: حنابله علما کرامو فرمايي خلع جدا کول دښځي دي د ميړه له طرفه په خاصو الفاظو سره که دا جدايي د مال په مقابل کي وي او يا د مال په مقابل کي نه وي (٦) جلد ٥ ص ۲۱۲

شپږم:هغه خلع چي اسلام روا کړي هغه اخيستل شوي له لري کولو د جامو ښځه ئځکه ښځه لباس ده د سړي لپاره او سړي لباس ده د ښځي لپاره (۱۳) جلد ۲ ص ۲٦٤

لکه څنګه چي الله تعالي فرمايي : (هن لباس لکم و انتم لباس لهن ) (۱) سورة بقره آيته ۱۸۷

ژباړه : هغوي ستاسي جامه او تاسي د هغوي جامه ياست (۲۷) جلد ۱ ص ۱۸٥

## دوهم مبحث : د خلعي مشروعيت

د خلعي مشروعيت په کتاب الله ، سنت رسول الله صلي الله عليه وسلم ، اجماع امت او په دليل عقلي څلورو واړو نه ثابت دي :

په کتاب الله سره لکه دا قول د الله جل جلا له ( فلا جنا ح عليهما فيما افتدت به ) (۱) سورة البقره آية ۲۲۹

ژباړه : نو دهغو داوړو په مينځ کي ددي خبري باک نشته چي ښځه خپل ميړه ته يو څه بدل ورکړي او ځان ورڅخه بيل کړي (۲۷) جلد ۱ ص ۲۲۹

همدارنګه الله جل جلا له فرمايي(فان طبن لکم عن شي منه نفسا فکلوه هنياً مرياً) (۱) سورةالنسا آيت ٤

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: البته که هغوي يي په خپله خوښه تاسي ته بخشش کړي نو تاسي هغه په خوند سره خوړلاي شي . (۷) ج ۱ ص ٤۲۲

په بل ځاي کي الله جل جلا له وايي : ( فلا جناح عليهما ان يصلحا بينهما صلحاً) (۱) سورة النسا آيت ۱۲۸

ژباړه: نو هيڅ باک نشته که ميړه او ميرمن د څه حقوقو (په کمولو زياتولو باندي ) په خپلو مينځو کي روغه جوړه وکړه .(۲۷) ج۱ ص ۱۳۸

دوهم : د خلعي مشروعيت په نبوي احاديثو کي :

(عن ابن عباس رضي الله عنه ان امراة ثابت بن قيس جأت الي رسول الله صلي الله عليه وسلم فقالت يا رسول الله اني ما اعيب عليه في خلق و لا دين و لكني اكره الكفر في الاسلام فقال رسول صلي الله عليه وسلم اتردين عليه حد يقته ؟قالت نعم فقال رسول الله صلي الله عليه وسلم اقبل الحديقته و طلقها تطليقة )رواه البخاري (۱٦) ج ۳ ص ۲٦۱

ژباړه : د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي په تحقيق سره د ثابت بن قيس ښځه نبي عليه السلام ته راغله پس هغي اوويل : اي د الله جل جلا له پيغمبره ثابت بن قيس باندي زه د اخلاقو او ديندارۍ تور نه لګوم ليکن زه په اسلام کښي کفر بد ګنم پس نبي عليه السلام او فرمايل : آيا ته هغي ته د هغه باغ واپس کوي : هغي اوويل: آو ، پس نبي صلي الله عليه وسلم اوفرمايل ته خپل

باغ واپس کړه اي ثابت بن قيس او هغي ته طلاق ورکړه يعني هغه جدا کړه په جدا کيدو سره دا بخاري روايت کړي . ولابي داود و الترمذي .، و حسنه : ان امراة ثابت بن قيس اختلعت منه فجعل النبي صلي الله عليه وسلم عد تها حيضة . (۱٦) ج ۳ ص۲٦۱

ketabton.com - The Digital Library

و في رواية عمروبن شعيب عن ابيه عن جده رضي الله عنه عند ابن ماجه :ان ثابت بن قيس كان دميما و ان امراته قالت : لو لا مخافة الله اذا دخل على لبصقت في وجهه :- ولاحمد من حديث سهل بن ابي حثمة رضيالله عنه و كان ذلک اول خلع في الاسلام . (١٦) ج ٣ ص ٢٦٤

ژباړه : د ابو داود او ترمذي په روايت کې راغلي دي او هغه ورته حسن هم ويلي دي : په تحقيق سره د ثابت بن قيس ښځه راغله او د ثابت بن قيس نه يې خلع طلب کړه پس نبي علي السلام د خلع وقت او عدت يو حيض مقرر کړو او عمرو بن شعيب د هغې د پلار د هغې د نيکه په روايت کښې راغلي دي په ابن ماجه کښې چه ثابت بن قيس بدرنگه وو يعني ښکلي شکل والا نه وو او د هغه ښځې و يله که چيرې د الله تعالي ويره نه وي نو چه کله هغه زما خوا ته راځي نو زه به په هغه باندې يعني د هغه مخ ته تو گانې تو کړم – او امام احمد رحمة الله عليه د سهل بن ابي حثمع څخه روايت کوي ، او دا په اسلام کښې اولنې خلع وه .

او همدارنگه د خلع په مشروعيت باندې اجماع هم ده ،.

او عقلي دليل دادې چه ملک نکاح قياس کړې شوې دې په ملک قصاص باندې ، يعني لکه څنگه چې ملک قصاص مال نه دې خو د دې عوض اخستل جائز دې دغه شان نکاح هم اگر چه مال نه دې خو د دې عوض اخستل جائز دې او چه عوض واخلي او طلاق ورکړي د دې نوم خلع دې (٢٤) ج ٢ ص ٣٨٣

د ابن عباس رضي الله عنه په حديث کې چې کوم امر شوې دا امر د نبي صلي الله عليه وسلم د اصلاح او ارشاد لپاره وه نه د وجوب په خاطر .(٢٩) ج ٧ ص ٤٨٢

ابو بکر بن عبد الله المزيني جمهورو علماو څخه جدا شوې او فرمايي د ميړه لپاره جايز نه ده چې د ښځې څخه په خلع کې مال واخلي او داسې استدلال کوي چې آيت د ( فلا جناح عليهما فيما افتدت به ) دا آيت منسوخ شوې دې په دې قول د الله جل جلا له سره .(٢٩) ج ٧ ص ٤٨٢

( و ان اردتم ستبدال زوج مكان زوج واتيتم احداهن قنطاراً فلا تاخذوا منه شيأ ) (١) سورة نسا آيت ٢٠

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه : او که تاسي د يوي ښځي پر ځاي د بلي ښځي راوستلو اراده وکړي نو که تاسي هغي ته په پندونو مال هم ورکړي وي له هغه نه بيرته هيڅ شي مه اخلي (۲۷) ج ۱ ص ٤۳۸

جمهور علما وايي چي دا حمل ده په هغه صورت چي د مال په ورکولو د ښځي رضايت نه وي او که د مال په ورکولو ښځه راضي وي نو پدي صورت کي جائز ده (۲۹) ج ۷ ص ٤۸۲ .

## دريم مبحث : د خلعي الفاظ :

د احنافو په نزد د خلع لپاره پنځه الفاظ دي چي عبارت دي له الخلع ، المباراة و الطلاق ، المفارقة ،البيع و الشراً . لکه چي يو سړي ووايي خالعتک بکذا ( زه تا سره خلع کوم په دومره ) او يا داسي ووايي : طلقي نفسک على الف ( ته خپل ځان طلاق کړه په زر روپي ) (٤) ج۲ ص ۷۷۰

د مالکيانو په نزد د خلعي لپاره څلور الفاظ دي : خلع ، مباراة ، صلح ، فديه . دا ټول يوه معنا لري چي د ښځي د مال مصرفول دي په طلاق باندي مګر د خلعي نوم خاص دي تر هغه چي ټول هغه شي رد کړي کوم چي ښځي په مهر کي اخستي وي (۳) ج ۲ ص ۵۰

او صلح په بعضي حصي د هغه مال سره ويي کوم چي ښځي ته ئي په مهر کي ور کړي وي . او فديه په زياد د هغه مال سره وي کوم چي ښځي په مهر کي اخستي وي .او مباراة دا چي هيڅ شي هم وانخلي يعني کوم مهر يي چي ښځي ته ورکړي د هغه مطالبه ميړه ونکړي .

امام شافعي او حنابله وايي چي خلع صحيح کيږي په لفظ د طلاق سره صراحتاً او کنايةً د نيت د موجود والي په صورت کي او همدارنګه صحيح کيږي خلع که په عربي لفظ سره هم نوي (۲٦) ج۳ ص۲٦۲

صريح الفاظ په خلع کي د اما شافعي په نزد لفظ د خلع او فديه ده . او د امام احمد رحمة الله عليه

ketabton.com - The Digital Library

په نزد صریح الفاظ خلع ، مباراة او فسخ دي او کنایه لفظ د امام شافعي رحمة الله علیه په نزد فسخ ده په صحیح روایت کي او نور تیول د طلاق کنایه الفاظ د خلع لپاره کنایه الفاظ دي ، او امام احمد رحمةالله علیه فرمایي کنایه الفاظ لکه باراتک ، ابراتک و ابنتک (۲۹) ج ۷ ص ٤٨٣

## څلورم مبحث : د خلعي حکم :

کله چي ښځه او خاوند خپل منځ کي جګړه اوکړي او دواړو ته دا ویره وي چه د الله جل جلا له حدود به قائم او نه ساتي نو هیڅ باک نشته چي ښځه ده ته د خپل ځان فدیه ورکړي په داسي مال سره چه د هغي په واسطه خاوند دي ته خلع ورکړي دلیل د الله تعالي قول دي ﴿فلا جناح علیهما فیما افتدت به﴾ (۱) سورة بقره آیت ۲۲۹

ژباړه : نو د هغو دواړو په مینځ کي ددي خبري باک نشته چي ښځه خپل میړه ته یو څه بدل ورکړي او ځان ورڅخه بیل کړي (۲۷) ج ۱ ص ۲۲۹

مستحب ده د خاوند لپاره چي د ښځي د مطالبي په صورت کي خلع قبوله کړي (٦) ج ٥ ص ۲۳۷ لکه څنګه چي د ثابت بن قیس د ښځي په قصه کي راغلي لکن کله چي د ښځي ژوند او وخت ښه وي پدي صورت کي د خلعي غوښتنه د ښځي له طرفه مکروه او بده دي لکه څنګه چي په حدیث شریف کي ذکر شوي : عن ثوبان قال : قال رسول الله صلي الله علیه وسلم ایما امراة سالت زوجها الطلاق من غیرباس فحرام علیها راحة الجنة . (۱) ص ۳۰۳

ژباړه : هره هغه ښځه چي د خپل خاوند څخه بدون د موجب د طلاق غوښتنه وکړي په دي ښځه د جنت بوي حرام دي ،.

پدي صورت کي خلع عبث او مکروه ده مګر خلع واقع کیږي سره د کراهیت بنآ پدي آیت ، فان طین لکم عن شي منه نفسا فکلوه هنیاً مریاً (۱) سورة نسا آیت ٤

ژباړه : البته که هغوي یي په خپله خوښه تاسي ته بخشش کړي نو تاسي هغه په خوند سره خوړلاي شي .(۲۷) ا| ص٤٢٢

ketabton.com - The Digital Library

حنابله وايي چي د اکراه (زور ) په صورت کي خلع باطل ده او مال بيرته ښځي ته رد کيږي او زوجيت په خپل حال باقي پاتي کيږي ځکه دغه ضرر د بعضي عواملو په سبب رامنځ ته شوي لکه وهل ، نه ورکول د نفقي يا د نوبت نه مراعات کول او يا داسي نورځکه ښځه پدي صورت کي د هغه حق چي لدي څخه په ظلم سلب شوي د هغه فديه ورکوي . لکه څنګه چي پدي مبارک آيت کي ذکر شوي .( ولا تعضلوهن لتذهبوا ببعض ما آتيتمو هن ) (١) سورة نسا آيت ١٩

ژباړه : او نه د ا روا ده چي هغوي ور بروي او د هغه مهر د يوي برخي د وهلو هڅه وکړي چي تاسي هغوي ته ورکړي وي . (٢٧) ج ١ ص ٤٣٧

امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي چي خلع جائز ده ځکه په خلع کي د ښځي څخه د ضرر لريوالي راځي ليکن مکروه ده له وجي د قطع کيدو د نکاح کوم چي د شرع مقصده بناً پدي قول د نبي صلي اتلله عليه وسلم .( ابغض الحلال الي الله الطلاق ) بدترين حلال د الله جل جلا له په نزد طلاق دي . مگر په دو حالاتو کي مکروه نده :

اول :چي ښځه او خاوند يا يو ددوي څخه وويريږي چي د الله جل جلا له حدود به قايم نشي کوم چي الله جل جلا له په نکاح اندازه کړي .

دوهم: چي خاوند قسم وکړي او ښځي ته ووايي دري طلاقه درکوم کچيري تا خوارک ، څښاک او يا قضا حاجت وکړو پدي صورت کي ښځه د ميره سره خلع وکړي بيا ښځه يو د دغه اعمالو کوم چي خاوند قسم پري کړي تر سره کړي او بيا د سره نکاح وکړي پدي صورت کي خاوند نه حانث کيږي . (٢٦) ج ٣ ص ٢٦٢

ketabton.com - The Digital Library

## پنځم مبحث :د خلعي وقت او ارکان :

د خلعي وقت : خلع په هر وقت کي جائز دي برابره خبره ده که د حيض په وخت کي وي او که د طهر (پاکوالي ) په حالت کي وي .(۱۹) ج ۲ ص ۷۱

په خلاف د طلاق سره ځکه د طلاق څخه چي منع راغلي د حيض په وخت کي هغه د ضرر د دفع کولو په خاطر دي چي دا ضرر ښځي ته د عدة زياتوالي دي ، او خلع په خپل ذات کي د ښځي څخه د ضررونو او مشکلاتو د لري کولو لپاره دي که هغه ضرر د بد ژوند يا د بد اخلاقي او کيني په وجه وي خو که د حيض په حالت کي طلاق ورکړي نو په عدة د ښځي کي زياتوالي راځي چي دا زياتوالي د عدة پخپله يو لوي ضرر ده خو د لوي ضرر دفع کول د وړوکي ضرر په سبب جواز لري چي د ښځي په رضايت سره وي . (۲۹) ج ۷ ص ٤۸٥

د خلعي ارکان :

د جمهورو علما کرامو په نزد د خلعي ارکان پنځه دي چي پدي کي د احنافو مذهب نده شامل او دوي په جدا ډول د خلعي ارکان تر څيړني لاندي نيسي خو لمړي دلته د جمهورو نظر بيانوو:
۱ القابل (لا زمونکي د عوض) ۲_ الموجب ( ميره يا ولي يا وکيل ) ۳- العوض ( هغه شي يا مال چي خلع پري کوي ) ٤- المعوض يعني د ښځي مخصوصه اندام . ٥- صيغه د خلعي لکه خالعتک يا خلعتک علي کذا .

د خلعي لپاره دغه پنځه ذکر شوي ارکان لازم او ضروري دي چي بيدون له دغه ارکانو څخه خلع نه صحيح کيږي . (٦) ج ٥ ص ٢٤٤

ددغو ذکر شويو ارکانو لاندي د پنځو امورو موجوديل ضروري دي :
اول : چي د خلعي غوښتنه يا د خاوند يا د خاوند د ولي يا وکيل له طرفه وشي په هغه صورت کي چي د ښځي ميره يا ماشوم يا سفيه (ناپوه) وي .

ketabton.com - The Digital Library

دوهم : ملک متعه باید موجود وي چي ؛ لري کول یي ممکن وي او دا په موجودیت د زوجیت سره کیږي که دا زوجیت حقیقتاً وي او که حکماً .

دریم : مال به د ښځي لخوا وي یا به د ښځي د ولي یا د ښځي د وکیل له طرفه وي ، او دا مال هغه څه چي صلاحیت ددي لري چي مهر شي که هغه مال وي او که نور کوم منفعت چي د مال قایم مقام شي بي لدي چي د خلعي لپاره ادني (کمه ) اندازه معلومه شوي نده په خلاف د مهرسره. نو خلع موجود یږي په بدل د هر شي کي که هغه کم مال وي او که زیات د اکثرو علماو په نزد . خو مستحبه خبره د خلعي د مال په اخستلو کي دا ده چي میره د ورکړل شوي مهر څخه زیات مال وانخلي .

څلورم : صیغه د خلع دي یا هر هغه لفظ چي په هغه کي معنا د خلعي پرته وي لکه ابرا ، مبراة ، فدا ، افتدا برابره خبره ده که دغه الفاظ په صراحت وویل شي او که په کنایه سره نو په خلع کي ضروري دي چي د خلعي لپاره معین لفظ د میره لخوا استعمال شي . بناً خلع تنها د مال په ورکولو سره نه حاصلیږي ځکه چي د خلعي لپاره بعضي اثار او نتایج دي چي هغه د مال په مقابل کي د طلاق ورکولو د نتایجو سره یو شان دي ځکه پدغه د واړو صورتونوکي د مال په مقابل کي تصرف کول دي په ملک بضعه کي چي دغه تصرف په بضع کي بیدون د ذکر کولو د لفظ د طلاق یا نکاح څخه نه صحیح کیږي .

پنځم : دا چي خلع د ښځي له طرفه د مال په بدل کي وي او هر هغه معاوضه یا مال چي ښځه ئي د خلعي په ترسره کولو کي میره ته ورکوي ضرور ده چي میره دا مال قبول کړي او قبلول د مال باید د ایجاب په مجلس کي وي . کله چي ښځه د مخالعي اوریدلو څخه وروسته له مجلسه ودریږي یا وروسته پوه شي په خلع باندي په طریقي د کتابت سره نو په دغه صورت کي ئي خلع نه صحیح کیږي . (۲۹) ج ۷ ص ۴۸۵ص ۴۸۶

ketabton.com - The Digital Library

احناف په خلع کي اعتبار ورکوي رکن د خلعي ته چي هغه ايجاب او قبولدي ځکه چي خلع عقد د طلاق دي په مال سره نو جدائي نه واقع کيږي او د مال مستحق هم نه ګڼل کيږي مګر په قبلولو سره.(۲۱) ج۲

ketabton.com - The Digital Library

"دوهم فصل"

# د خلعي کیفیت

**لمړي مبحث**: د خلعي کیفیت او هر هغه څه چي په خلع باندي مرتب کیږي:خلع د مالکیه ؤ ، شافعیه ؤ او همدارنگه د حنابله ؤ په نزد د عوض څخه عبارت دي نو د خلعي د صحت لپاره د عوض قبضول ضروري ندي کله چي خلع د خاوند له طرفه تمامه شي او ښځه مړه شي یا ښځه مفلسه شي نو میړه به د هغه چا څخه مال اخلي چي د ښځي نه پاتي وي ، او د عیب له وجهي د عوض ردول جائز دي ځکه چي د عقد غوښتنه داسي ده چي دغه عوض به له عیب څخه سالم وي نو کله چي په عوض کي عیب پیداشي نو د هغي رد کول ثابت دي لکه مبیعه یا مهر . همدارنگه خلع صحیح کیږي په لفظ د معاوضي سره کله چي پدي کي معني د معاوضي وي ، او همدارنگه خلع صحیح کیږي کله چي معلق په شرط سره وي ځکه چي دي کي معني د طلاق پرته ده نو د خلع د عقد سره میړه د عوض مالک کیږي او میړه په قبض سره ضامن کیږي ، لکن حنابله په ضمان کي فرق کوي دوي وائي : عوض په خلع کي لکه عوض په مهر او بیع کي کله ، چي عوض کیلي یا وزني وي نو په تاوان کي خاوند نه داخلیږي یعني تاوان په خاوند نراځي . او په دغه عوض کي خاوند تصرف نشینکولای مگر کله چي عوض قبض کړي . (۲٦) ج ۳ ص ۲٦۹

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه ئي په اړه داسي فرمائي : خلع د ښځي د قبلولو څخه مخکي د میړه له طرفه قسم دي نو رجوع ورڅخه نه صحیح کیږي ځکه چي ښځي خپل طلاق په قبلولو د مال سره معلق کړي دي او تعلیق کول اصطلاحاً یمین (قسم) دي . خو عوض ورکول به د ښځي له طرفه وي ځکه دغه مال ښځي په ځان لازم کړي د خپل نفس د فدي او د خاوند څخه د خلاصون په خاطر لکن د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد صرف عوض ندي بلکي مشابه ده له نیکي (احسان ) سره ځکه بدل د عوض شرعاً مال ندي بلکي دا د ښځي د خپل نفس فدیه ده نو خلع

ketabton.com - The Digital Library

محض معاوضه ندي ، صاحبين فرمايي چه خلع يمين ده د زوجينو تر منځ.
كله چي خلع د خاوند له طرفه يمين (قسم) شي نو لاندي اثار ورباندي مرتبيږي
۱-د ښځي د قبلولو مخكي د ميړه رجوع نه صحيح كيږي .
۲- د ميړه ايجاب په همدغه مجلس كي ضرور نده كه چيرته ميړه د مجلس څخه مخكي د ښځي د قبلولو څخه پاځيږي نو د ميړه ايجاب پدغه قيام سره نه باطليږي .
۳- د خاوند لپاره په معلومه موده كي د اختيار شرط كول نه صحيح كيږي ځكه چي ميړه د رجوع خاوند نه كيږي له خلع څخه دا يمين ده د ميړه له طرفه كله چي د ځان لپاره اختيار شرط كړي نودغه شرط ئي باطل دي لكن خلع ورباندي نه باطليږي .
٤-جائز دي ميړه لره چي خلع معلق كړي په شرط پوري يا يي راتلونكي زماني ته نسبت وكړي لكه داسي ووائي كله چي فلاني راغلو زه تاسره خلع كوم ، يا سبا تاسره خلع كوم يا د راتلونكي مياشتي په سر كي تا سره خلع كوم ، نو د ښځي قبلول په هغه وخت كي صحيح كيږي كله چي شرط موجود شي . (۲۱) ج ۳ ص ۲۲۲
د حنابله په نزد مطلق معلق كول د خلعي په شرط سره صحيح نده امام مالک او امام شافعي رحمهما الله وائي جائز دي معلق كول د خلعي تر شرط پوري ، لكه داسي چي ووائي كله چي تا ماته دومره مقدار مال راكړو ته دي زما له طرفه طلاقه ئي . (٦) ج ٥ ص ۲۱۸

## دوهم مبحث : دخلعي شروط

طلاق كه څه هم د خاوند په خوښه واقع كيږي ، د ښځي موافقي ته يكي ضرورت نشته ، خو چه كله د ميړه او ښځي تر منځ د خلعي په سبب بيلتون صورت نيسي نو په دي صورت كي د نورو عقدونو په څير ميړه او ښځه د عقد دوه خوا وي ګڼل كيږي او دغه عقد په ايجاب او قبول سره تړل كيږي ، دا چي هر عقد او تړون ځانګړي شرايط لري نو خلع هم په لاندي شرايطو تر سره كيږي :

ketabton.com - The Digital Library

١- چي ميړه عاقل او بالغ وي ، هغه سړي چي عقل يي د مرض ، يا زوړوالي په سبب مختل شوي وي ، يا نابالغه ماشوم و ي خلع يي د ښځي سره نه صحيح کيږي

٢- چي ښځه د طلاق محل وي يعني نکاح حقيقة يا حکماً باقي وي، حکماً معني د[1]چي ښځه د رجعي طلاقو په عدت کي وي که د عدت موده ختمه شوي وي نو ښځه د طلاق محل نه ګڼل کيږي اوخلع ورسره نه صحيح کيږي .

٣- خلع ، د خلعي يا په داسي الفاظو تر سره شي چي د خلعي معني افاده کړي لکه د اختلاع ، مخالعي ، او مبارات الفاظ .

٤- ښځه د خلعي بدل په ځان ومني ، د احنافو په نزد که ښځه د سړي سره د پيسو په مقابل کي طلاق ومني طلاق بالمال ورته ويل کيږي خلع نه ده .(٢١) ج ٣ ص ٢٢٥

په مدني قانون کي دغو شرايطو ته دا ډول اشاره شوي ده :

١٥٧ مه ماده : ( خلع هغه وخت صحيح کيږي چي ميره د طلاق ورکولو صلاحيت ولري ښځه د هغي محل وي ) (٢٣) ج ١ ص ٤٢

که په خلع کي چي د بدل ذکر ونه شي ، د خلعي لفظ د طلاق کنائي الفاظ ګڼل کيږي .

که ميره د طلاق نيت ولري نو د احنافو په نزد باين او د جمهورو فقهاو په نزد رجعي طلاق واقع کيږي ، او که د طلاق نيت ونلري په دغه الفاظو هيڅ اثر نه مرتب کيږي ، په مدني قانون کي د احنافو نظر اخيستل شوی دي او دخلعي دبدل د نفي کولو په صورت کي د باين طلاق حکم کوي ، دي موضوع ته د قانون ١٦٥ ماده داسي اشاره کوي : ( که د خلعي په وخت کي د خلعي بدل نفي شوي وي باين طلاق واقع کيږي خو د زوجيت د حقوقو د ساقطيدو موجب نه ګرځي ) (٢٣) ج١ ص٤٤

که د خلعي په تړون کي ايجاب د ميره له خوا صورت ونيسي نو د ښځي د قبول څخه مخکي له

ketabton.com - The Digital Library

خپلي خبري بيرته نشي گرځيداي ، که څه هم له مجلس څخه پاڅيږي او يا ښځه چپ پاتي شي ځکه د ميړه له خوا ايجاب ښځي ته د طلاق د واک سپارلو معني لري نو کله چي يو څوک ښځي ته د طلاق واک ور وسپاري بيرته گرځيدل تري جواز نه لري ، او که ښځه له همدغه مجلس څخه پاڅيږي او يا دميړه خبري ته هيڅ اهميت ورنکړي ايجاب باطل گرځي ، په همدغه توگه که سړي د ښځي په غياب کي د خلعي له پاره ايجاب تر سره کړي په کوم مجلس کي چي ښځي ته خبر ورسيږي نو قبول يي تر همدغه مجلس پوري منحصر دي ،که له مجلس څخه پاڅيږي ايجاب باطل گرځي او که ايجاب د ښځي له لوري صورت ونيسي نو په دي صورت کي د خلعي اصلي حالت رامنځته کيږي او ښځه کولي شي چي د ميړه د قبول څخه مخکي له خپلي خبري څخه وگرځي .(٥) ص ٣٣٠

په مدني قانون کي دواړو خواوته اجازه شته چي د مقابل لوري د قبول څخه مخکي له خپل ايجاب څخه وگرځي د قانون ١٦١ مه ماده پدي هکله داسي تصريح کوي :

(د زوجينو څخه هر يو کولي شي چي د مقابل خوا د قبلولو تر مخه د خپل ايجاب څخه رجوع وکړي ) (٢٣ ) ج ١ ص ٤٣

## دريم مبحث : د خلعي انواع

خلع په دوه قسمه دي : ١- هغه خلع ده چي ښځه پکي خاوند ته کوم عوض ورنکړي .

٢- هغه خلع ده چي ښځه خاوند ته په بدل کي مال ورکړي .

اول قسم خلع هغه ده چي خاوند ښځي ته ووائي ،خالعتک، ما تا سره خلع وکړه بدون له دي چي کوم شي ذکر کړي او د دي قسم خلعي حکم د کنايي طلاق د جملي څخه دي ، پدي خلع کي هيڅ شي نه واقع کيږي مگر چي خاوند د طلاق نيت کړي وي او يا دحالت څخه دا معلومه شي چي د خاوند مقصد طلاق دي ، لکه څنگه چي په کنايه طلاق کي حالت معتبر دي..

ketabton.com - The Digital Library

او هر څه هغه نوع د خلعي چي ښځه په هغه کي خاوند ته مال ورکړي او يا ښځه د خپل هغه مالي حق څخه تيره شي کوم چي په زوجيت کي په خاوند لازم دي . داقسم خلع هغه ده کوم چي مونږ د هغه په پلټنه کي يو ، ځکه خلع اگر چي دوقسموته شاميږي خو په مطلق ډول هغه دوهم قسم ته راگرځو کوم قسم چي لغتاً او اصطلاحاً او همدارنگه شرعاً او عرفاً مقصد دي .

خلع يو تړون د ي د نورو تړونونو په شان چي ايجاب او قبول ته پکښي ضرورت دي :

ملک العلما امام الکاساني فرمائي : چي خلع يو تړون دي د طلاق چي د خاوند څخه صادريږي د مال په مقابل کي چي په دي سره جدائي نه واقع کيږي او همدارنگه خاوند د مال مستحق نشي گرځيدلي تر څو چي ښځه دا تړون قبول نکړي په خلاف د هغه نوعي چي په هغه کي مال نوي يعني خاوند ښځي ته ووايي خالعتک او مال ذکر نکړي او يا يو نوع د طلاق ذکر کړي دا واقع کيږي برابره خبره ده که ښځه ئي قبول کړي او که قبول يي نکړي ځکه دا يو نوع د طلاق دي بدون د مال څخه چي د ښځي قبلولو ته ضرورت پکښي نشته . (۱۸) ص ٤٥٦-٤٥٧

## اول مطلب : د ولي د خلعي حکم

که د وړي ماشومي پلار د خپلي لور د ميړه سره خلع وکړي ، خلع صحيح ده د دغسي خلعي لپاره دري صورتونه دي ، چي په دوه صورتونو کي ميړه د خلعي د مال مستحق نه گرځي او په يو صورت کي گرځي :

۱- چي د ماشومي پلار د بدل ذکر ونه کړي او د لور ميړه ته ووايي زما دلور سره خلع وکړه ميړه يي په ځواب کي ورته ووايي (خلعتها) خلع مي ورسره کړي ده طلاق واقع شو خو مال لازم نشو.

۲-او که د ماشومي جلي پلار د بدل په مقابل کي خلع وکړي مثلاً ميړه ووايي چي ستا د لور سره مي د هغي د مهر په مقابل کي خلع کړي ده پلار يي قبوله کړي طلاق واقع شو بيا هم بدل لازم

ketabton.com - The Digital Library

نشو ځکه پلار د ماشومي لور په مال خلع نشي کولای خو د ماشوم زوي په مال واده ورته کولای شي .

۳- خو که پلار د لور میړه ته ووایي ( زما د لور سره د هغې په مهر خلع وکړه زه یې ضامن یم ) میړه په همدي خبره د ښځي د پلار سره خلع وکړي طلاق واقع شو او پلار یې د مهر په تسلیمولو مکلف دي که مثلي شي وي نو مثلي او که قیمت ولري د هغه قیمت به میړه ته تسلیموي که پدي صورت کي ښځه عاقله او بالغه وي او پلار یې خلع د لور په اجازه تر سره کړي وي خلع صحیح ده او ښځه مکلفه ده چي ټاکلي مهر میړه ته وسپاري او که د لور په اجازه یې خلع نه وي کړي او د جلي پلار میړه ته د مهر ضمانت کړي وي,خلع جائز ده نو ښځه به د خپل میړه څخه د مهرغوښتنه کوي او میړه به یې د جلي د پلار څخه ځکه چي هغه ئي ضمانت کړي دي (۱۲)ج٦ ص ۱۷۹

## دوهم مطلب: د مریض د خلعي حکم

د مرگ د مرض په حالت کي د ښځي سره خلعه کول :

د مرگ د مرض څخه هدف د ښځي هغه مرض دي چي د مرگ پیښیدل پکښي غالباً احتمال ولري، برابره خبره ده چي له همدي مرض څخه مړه شي یا په بل سبب .هغه ښځه چي د مرگ په مرض مبتلا وي هر ډول شرعي تصرفات تر سره کولي شي ، ځکه مرض د تصرفاتو د بندیز سبب نشي کیدي مگر دا چي د مرض په سبب یې عقل زایل شي ښه او بد ونه پیژني ، نو دا ډول مریض شرعي تصرفات نه شي تر سره کولي . د ښځي بخششي مال د مرض د حالت پر وخت د وصیت حکم لري نو ځکه د مرض په حالت کي د ښځي خلع صحیح ده د احنافوپه نزد د مرگ مرض د حالت پر وخت د ښځي سره خلع کول جواز لري دغه بیلتون د احنافو په نزد د باین طلاق حکم لري ، خو په یو شرط چي د خلع بدل به د مړي د ترکي د دریمي برخي څخه زیات

ketabton.com - The Digital Library

نوي ، بايت طلاق ځکه واقع کيږي چي شرط يي ثابت شوي او هغه د ښځي د قبوليت مسئله ده ، او بدل ځکه لازميږي چي ښځه پري ملزمه ده ، د دريمي برخي څخه زيات مال په بدل کي ځکه نه شي ټاکلي چي ښځه په دغه حالت کي بخشش کوونکي ( وصيت کونکي )،ده او د مرض الموت په حالت کي يو څوک د مال له دريمي برخي څخه دزيات مال وصيت نه شي کولاي . (٥) ص ٣٣٨

کله چي يوه ښځه د مرگ د مرض په حالت کي د ميړه سره خلع تر سره کړي او د عدت د پوره کيدو څخه د مخه وفات شي نو سړي به د ښځي په مال د لاندي دريوشيانو څخه چي هر يو کم وي اخلي :

١- د خلعي بدل ٢- د ترکي دريمه برخه ٣- ميراث .که ښځه د عدت له پوره کيدو وروسته وفات شي ، نو سړي د هماغه بدل مستحق دي چي دواړوپري اتفاق کړي دي خو په دي شرط چي د ترکي د دريمي حصي څخه زيات نه وي . که د خلعي څخه وروسته ښځه جوړه شي . نو سړي يوازي د بدل مستحق دي لږ وي او که ډير ، له دي نه معلوميږي چي د ښځي مرض د مرگ مرض نه وه او تصرف يي صحيح وو. (١٨) ص ٤٧٢

د افغانستان په مدني قانون کي دي موضوع ته داسي اشاره شوي ده :

١- ( که ښځه د مرگ د مرض په حالت د ميړه سره خلع وکړي ، خلع صحيح کيږي او د هغي په اثر باين طلاق واقع کيږي ، که ښځه د عدة په حالت کي مړه شي د خلعي بدل پري لازميږي ، خو ميړه د ميراث د حق د جملي څخه د خلعي د بدل څخه او د ترکي د دريمي حصي څخه کوم يو چي کم وي د هغي مستحق گرځي . ٢- که ښځه د عدت څخه وروسته مړه شوه د ترکي د دريمي حصي او د خلعي د بدل څخه چي هر يو کم وو د هغي مستحق گرځي .

٣- که ښځه جوړه شوه ميړه د خلعي د ټول ټاکلي بدل مستحق کيږي ) (٢٣) ج ١ ص ٤٧

ketabton.com - The Digital Library

## په خلع کې د ښځې واک :

د جمهور علماؤ په نظر کله چې يو سړي د خپلې ښځې سره خلع وکړي ، دطلاق واک ښځې ته انتقاليږي ، سړی نه شي کولی چې دغه واک له ښځې څخه بیرته واخلي ځکه ښځه د همدې له امله خپل مال په مصرف رسوي چې له میړه څخه بیلتون واخلي .

کله چې سړي وغواړي ښځې ته دخلعې د بدل مال بیرته وروسپاري او مراجعه ورته وکړي او ښځه هم ورسره موافقه ولري نو د عدت له تیریدو وروسته به په نوي عقد سره د واړه يو ځای کیږي ، ځکه خلع د باين طلاق حکم لري او د باين طلاق څخه وروسته میړه په نوي عقد سره ښځې ته مراجعه کولی شي . (۳) ج ۲ ص ۵۱

## دریم مطلب د سفیه د خلعې حکم :

د هر مکلف (عاقل ، بالغ ) طلاق صحیح کیږي که سفیه (ناپوه ) وي که رشید (هوشیار) یا غلام وي یا آزاد ځکه د هر يو د دغو څخه طلاق صحیح کیږي خلع یې هم صحیح کیږي ، ځکه غیر د بدل څخه چې د طلاق صلاحیت لري نو دمال په مقابل کې خو یې په طريق اولی صلاحیت لري . (۲۱) ج۳ ص ۲۲٦

## څلورم مطلب : د ماشوم د خلعې حکم

د ماشوم د خلعې په هکله ائمه اربعه و اختلاف کړي :

امام ابو حنیفه رحمة الله علیه امام شافعي رحمة الله علیه او امام مالک رحمة الله علیه د هغه خاوند لپاره چې خلع ئې صحیح کیږي عقل او بلوغ شرط ګرځولي او د دوي په نزد د ممیز صبي خلع نه صحیح کیږي اګر که ولي اجازه هم ورته کړي وي .(۲۲) ص ۲۸۳

د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد د ممیز ماشوم خلع ځکه نه صحیح کیږي چې که خلع د مال

ketabton.com - The Digital Library

په مقابل کي وي دا يمين (قسم ) دي او که غير د عوض څخه وي دا د کنايه طلاق د الفاظو څيني دي ، او حال دا چي د ماشوم يمين نه منعقد کيږي ځکه د ا عقد ده چي خپله په خپل نفس واجبوي او صبي دوې اهليت نه لري همدارنګه د صبي طلاق هم نه صحيح کيږي .

امام شافعي او امام مالک رحمهما الله وائي چي د صبي خلع ځکه نه صحيح کيږي چي خلع طلاق ده په عوض سره او صبي اهليت د صدور د طلاق نه لري .(٢١) ج ٣ ص ٢٢٢

حنابله وائي د مميز صبي خلع صحيح کيږي د ولي د اجازي د موجوديت سره قياس کوي په صحت د طلاق د صبي باندي ځکه دوي وايي چي د ماشوم طلاق صحيح کيږي بيدون د عوض نه خلع په عوض سره په طريقه اولي صحيح کيږي . (٦) ح ٥ ص ٢١٣

لکن د حنابله دا قول ضعيف دي ځکه په راجح قول کي د ماشوم طلاق نه صحيح کيږي په خاطر د دي چي طلاق د ماشوم لپاره محض ضرر ده نو طلاق يي چي نه صحيح کيږي خلع يې هم نه صحيح کيږي.

د ماشومي جلي خلع : په دي مسئله کي اختلاف دي چي کله ماشومه جلي د خپل خاوند سره خلع وکړي ايا اثار وربandي مرتب کيږي او که لغوه دي ؟ احناف وائي چي کله مميزه صفيره جلي په عوض باندي خلع وکړي د خپل هغه خاوند سره چي خلعه يي صحيح کيږي . مال ورکول نه لازميږي اګر که ولي اجازه ورته کړي وي خو طلاق ورباندي واقع کيږي .

مال ځکه نه وربandي لازميږي چي دا مال ورکول د ښځي له طرفه تبرع ده که چيري ښځه مال ورکړي نو دا مال د عوض په مقابل کي نه راځي ځکه د نکاح منافع قيمت لرونکي ندي د عصمت د لري والي په حالت کي په خلاف د عقد نکاح سره . او هرڅه د طلاق د وقوع وجه دا ده چي طلاق بالمال د زوج له طرفه وي خو د ښځي تر قبلولو پوري معلق دي که چيري ښځي قبول کړو طلاق واقع کيږي . (٢٤) ج ٢ ص ٢٣٧

مالکيان وايي: چي کله صغيره مميزه جلي خلع کوي يا به د ولي په اجازي سره وي يا به غير د

ketabton.com - The Digital Library

ولي اجازي څخه وي و که د ولي په اجازي سره وي طلاق واقع کیږي او عوض وربانديلازمیږي . او که د ولي د اجازي بغیر وي طلاق واقع کیږي خو عوض لغوه دي مګر په هغه صورت کي چي شرط کړي خلع په ثبوت د مال سره لکه داسي چي ووايي که دي دومره مال ماته راکړو نو ته دي طلاقه یي په دغه صورت کي که ولي مال بیرته مسترد کړو له زوج نه طلاق نه واقع کیږي . (۱۰) ج ۲ ص ۳٤۸

امام شافعي رحمة الله علیه وایي چي کله ممیزه صغیره جلي خلع وکړي د خپل زوج سره دا خلع لغوه دي نه طلاق وربانديمرتب کیږي او نه مال وربانديواجبیږي اګر که ولي اجازه ورته کړي وي ځکه عبارت دماشومي لغوه دي او هیڅ نه وربانديمرتب کیږي . (۲٦) ج۷ ص ۲۷۰ امام احمد رحمة الله علیه فرمائي چي کله صغیره خلع وکړي د خپل خاوند سره عوض لغوه دي نه لازمیږي او که په لفظ یا نیت د طلاق سره وي رجعي طلاق واقع کیږي .(٦) ج ٥ ص ۲۱٥

د حنابله ؤ مذهب په عدم لزوم د مال داسي دلیل وړاند ي کوي : چي مال د خلعي په عوض کي بخشش دي او صغیره اهل د تبرع نده او ولي هم ددي صلاحیت نلري چي اجازه ورته وکړي په تبرع سره (۲٦) ج ۷ ص ۲۷۰

او هر څه وقوع د طلاق ده په مال سره که په لفظ د طلاق سره وي خو واضح ده او که په لفظ د طلاق سره نه وي خو نیت یي د طلاق وي پدغه صورت کي دا کنایه طلاق ده چي زوج یي په ښځه واقع کوي .

حنابله وایي چي خلع د صغیري په هغه صورت کي صحیح دي چي د ولي اجازه وي او په خلع کي د جلي مصلحت وي ،پدي صورت کي طلاق واقع کیږي او عوض لازم دي .
د ماشومي په خلع کي د ولي د اجازي دلیل داده چي د خلعي په کولو سره د ماشومي نفس او مال ته ضرر ونه رسیږي .

ketabton.com - The Digital Library

راجح مذهب ظاهراً د مالکیه ؤ ده او بعضي حنابله هم ورسره دي ، چي د دوي په نزد د ولي په اجازي سره به ماشومه خلع کوي ځکه ولي د ماشومي په ضرر موافق نده او د ولي د اجازي په صورت کي د ضرر احتمال ډیر کم دي . (۲۲) ص ۲۸۷-۲۸۸

## څلورم مبحث : په خلع کي د وکیل نیولو حکم

په خلع کي ښځه او میړه یا یو له دوي دواړو څخه کولاي شي د خلعي لپاره وکیل ونیسي .
او د هر هغه چا څخه چي خلع صحیح کیږي د هغه وکالت هم په خلع کي صحیح کیږي برابره خبره ده که وکیل آزاد ، غلام ، نارینه ، ښځه ، مسلمان ، کافر ، سفیه یا رشید وي ځکه هر یو د دوي څخه کولاي شي . چي خلع وکړي نو وکالت هم کولاي شي ځکه خلع عقد د معاوضي ده د بیع په شان که یو شخصي وکیل و نیسي چي په عوض د دغومره مال باندي ماته خلع وکړه ، مثلاً په لس درهمه او هغه خلع وکړي په پنځه درهمه پدي صورت کي موکل په خلع باندي مجبور ندي .

کله چي ښځي وکیل ونیوه چي د خپل میړه سره خلع وکړي او وکیل ته یي یو شي معین کړو وکیل په معین شوي شي باندي زیادت ؤ وکړو یا یي په داسي شي خلع وکړه چي د معین شوي شي اطلاق ورباندي کیږي نو دا زیادت په وکیل باندي لازمیږي . خو وکیل دغه زاید مال د ښځي څخه نشي غوښتلي مګر په هغه صورت کي چي ښځي ورسره منلي وي ، کله چي ښځي منلي وي نو په ښځه باندي د معین شوي مال څخه د وکیل اضافه مال لازمیږي . (۲۹) ج ۷ ص ۴۹۱

## پنځم مبحث : د فضولي (اجنبي) سړي د خلعي حکم

۱- که یو اجنبي سړي د یوي ښځي میړه ته ووایي چي ته د خپلي ښځي سره د زرو افغانیو په بدل کي خلعه وکړه زه یي ضامن یم که سړي د ښځي سره خلعه وکړي صحت لري او دخلع بدل په سړي لازم شو ، د ښځي تر قبلولو پوري موقوفه نه ده ځکه خلعه هغه چا پوري موقوفه ده چي بدل یي پر ځان لازم کړي وي .

ketabton.com - The Digital Library

۲- او که سړي د بدل ضمانت ونه کړي او نه د بدل نسبت چا ته وکړي او يوازي همدومره ووايي چي د خپلي ښځي سره د زرو افغانيو او ددي کور په بدل کي خلع وکړه نو په دي صورت کي خلعه د ښځي تر قبلولو پوري موقوفه ده که ښځي ورسره ومنله نو بدل ورکول پري لازم دي که کور نشي ورکولاي د هغي قيمت به ورکوي . (۱۸) ص ٤٧٠

۳- په همدي توګه که اجنبي يو بل سړي ته د بدل نسبت وکړي مثلاً ووايي چي د خپلي ښځي سره د فلاني سړي د باغ په بدل کي خلعه وکړه ، نو قبلول او ردول د هماغه سړي پوري اړه لري

٤- که يوه ښځه خپل ميړه ته ووايي چي زما سره د زرو افغانيو په بدل کي خلع وکړه چي فلانکي سړي يي ضامن دي ميړه ورسره ومنله خلع دښځي سره صحيح ده او د بدل د ضمانت قبلول د ضمانت کونکي پوري ارتباط لري . (۱۸) ص ٤٧٠

ketabton.com - The Digital Library

"دریم فصل"

## په خلع باندي د عوض اخستلو حکم

لمړي مبحث: په خلع باندي د عوض اخستلو حکم ، فقها کرامو په مشروعیت د اخستلو د عوض په مقابل د خلعي او طلاق کي په لاندي ډول بحث کړي دي :

اول : چي ښځه خپل خاوند د بد شکلي یا د خراب ژوند له وجي بد ګڼي او یا ویریږي چي د خاوند حق به ادا نه کړي په دي صورت کي خاوند ته جائز دي چي د ښځي سره خلع وکړي او د جدایي په مقابل کي مال واخلي ،لکن د احنافو په نزد مکروه ده چي خاوند د هغه مال څخه زیات واخلي کوم چي ده ورکړي په مهر کي لکه څنګه چي د ثابت بن قیس د ښځي په قصه کي مخکي تیر شو (قال النبي صلي الله علیه وسلم اتردین الیه حدیقته ؟فقالت نعم و زیادة فقال علیه سلام ، اما الزیادة فلا ) یعني : نبي صلي الله علیه وسلم وفرمایل آیا هغه ته خپله باغچه ورسپاري؟ د ثابت ښځي وویل هوو بلکي زیات هم ورکوم ، نبي صلي الله علیه وسلم وویل چي زیادت نشته همدا قول د عطا طاوس زهري او عمروبن شعیب هم دي .

لکن جمهورو علماؤ کرامو جواز ورکړي چي خاوند کولاي شي زیات د هغه مال څخه واخلي کوم يي چي ښځي ته ورکړي په هغه صورت کي چي نافرماني د ښځي له طرفه وي مګر دا کار خاوند ته مستحب نده له وجي ددي قول د الله تعلي جل جلا له (و لا یحل لکم ان تاخذوا مما آتیتمو هن شیا الا ان یخافا الا یقیما حدود الله ، فان خفتم الا یقیما حدود الله ، فلا جناح علیهما فیما افتدت به ) (۱) سورة بقره آیت ۲۲۹

ژباړه : او پداسي شان رخصتول تاسي ته روا ندي چي څه شي مو ورکړي و ي له هغوي ته یو څه بیرته تري واخلي البته دامستثنا ده چي ښځه او میړه د الله په حدود باندي په دریدو کي اندیښمن وي په داسي صورت کي که تاسي ته دا ویره وي چي هغوي دواړه به د الله په حدود و ټینګ پاتي

ketabton.com - The Digital Library

نه شي نو د هغوي دواړو په منځ کي ددي خبري باک نشته چي ښځه خپل میړه ته یو څه بدل ورکړي او ځان ورڅخه بیل کړي . ۰۲۷) ج۱ ص ۲۲۹
پدي مبارک آیت الله جل جلا له گناه نفي کړي د سړي څخه په اخستلو د مال د طلاق په مقابل کي که دغه مال کم وي او که زیات . او کومه نهي چي په حدیث د ثابت بن قیس کي راغلي هغه محمول دي په خلاف اولي باندي او همدارنگه ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنه وایي که چیرته ښځه د خاوند سره خلع وکړي په میراث باندي او یا په هغه د سمال سره چي ښځه په هغه سره خپل ویښتان تړي دا جواز لري ، چي په اول کي زیات او په دوهم کي کم مال ته اشاره شوي دي . په همدي شان ربیع بنت معوذ وایي چي ما د خپل خاوند سره خلع وکړه په کم د عقاص باندي (د سر تړوني ) او عثمان بن عفان هم همدي ته جواز ورکړي او پدي قول اجماع راغلي چي یو صحابي هم اختلاف نه ده پکښي کړي .

دوهم: که چیرته نفرت او سرکشي د خاوند له طرفه وي په دي صورت کي خلع مکروه دي په اتفاق د علماؤ سره ، چي پدي قول د الله جل جلا له سره دلیل نیسي ( و ان اردتم استبدال زوج مکان زوج و آتیتم احداهن قنطاراً فلا تاخذوا منه شیاً اتاخذونه بهتاناً و اثماً مبیناً )(۱) سورة النسا آیت ۳۰

ژباړه : او که تاسي د یوي ښځي پر ځاي د بلي ښځي د راوستلو اراده وکړي نو که تاسي هغي ته په پنډونو مال هم ورکړي وي له هغه نه بیرته هیڅ شي مه اخلي ا یا تاسي په تو ر تپلو او ښکاره ظلم کولو هغه بیرته اخلي ؟ . (۲۷ ) ج ۱ ص ٤۳۸
او همدارنگه که خاوند زیاتي کوي د ښځي سره او هغه مجبوروي د خلعي طلب کولو ته تنگسیا ورباندي راولي او بد ژوند ورسره کوي تر څو طلاق ورکړي پدغه صورت کي خاوند ته روا نه ده چي عوض وغواړي د امام ابوحنیفه ، امام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نزد بنا په دي

ketabton.com - The Digital Library

قول د الله جل جلا له ( ولا تمسكو هن ضراراً لتعتدوا ) يعني محض د ربړولو لپاره يي مه ايساروي چي دا به تيري زياتي وي . او همدارنگه په بل ځاي کي الله جل جلا له فرمايي ( ولا تعضلوهن لتذهبوا ببعض ما آتيتموهن شيأ (١) سورة نسا ١٩

او نه دا روا ده چي هغوي وربړوي اود هغه مهر ديوي برخي د وهلو هڅه وکړي چي تاسي هغوي ته ورکړي وي (٢٧ ) ج ١ ص ٤٣٧

دا ټول دلالت کوي په حرمت د خلعي بيدون د ضرورت څخه ځکه چي دا ضرر دي د ښځي لپاره او ضرر په اسلام کي حرام دي بنا په دي قول د نبي صلي الله عليه وسلم ( عن جابر بن عبد الله قال : قال رسول الله صلي الله عليه وسلم لا ضرر ولا ضرار في الاسلام (١٧ ) ج ٥ ص ٢٣٨

ژباړه :په اسلام کي ضرر رسول نشته او نه چا ته د ضرر په مقابل کي ضرر رسول شته

او امام مالک رحمة الله عليه وايي خاوند ته روا نه ده چي د ښځي څخه څه واخلي د مجبورتيا په حالت کي او که وايي خستلو نو واجب ده په خاوند چي هغه بيرته ښځي ته ورکړي

دريم : که بدي د خاوند او ښځي دواړو له طرفه وي او يريدل چي د زوجيت په حقوقو کي به کمي او زياتي راشي پدي صورت کي خلع جائز او عوض اخستل هم ورباندي جائز دي په اتفاق سره بنا پدي قول د الله تعالي ( فان خفتم الا يقييما حدود الله فلا جناح عليهما فيما افتدت به ) (١) سورة بقرة آيت ٢٢٩

ژباړه : پداسي صورت کي که تاسي ته دا ويره وي چي هغوي دواړه به د الله پر حدودو تينګ پاتي نشي ، نو د هغوي دواړه په منځ کي ددي خبري باک نشته چي ښځه خپل ميړه ته يو څه بدل ورکړي او ځان ورڅخه بيل کړي . (٢٧) ج ١ ص ٢٢٩

ketabton.com - The Digital Library

دوهم مبحث : خلع کول په مقابل د بعضي منافعو او حقوقو کې :

هر هغه شي چې په مهر کې صحیح کیږي د خلعې بدل هم تاکلی کیدی شي ، خو هر هغه شي چې د خلعې په بدل کې تاکل کیدی شي مهر نه شي کیدلی.مثلا په مهر کې غیر منقولي شیان لکه کور ورکول ، زمکه ورکول ،اومنقولي شیان لکه نقدي پیسې ، سره او سپین زر ، موټر اوداسې نور ورکول صحیح دي دغه مذکوره شیان د خلعې بدل هم کیدی شي ، خو ځیني شیان چې د مهر په توګه نشي ورکول کیدي خو د خلع بدل کیدی شي دمثال په ډول :

دیوشي ګټه او منفعت : چې یو سړی د ښځې سره په داسې توګه خلعه کوي چې ښځه خپل کور یا زراعتي ځمکه د یو ټاکلي وخت لپاره سړي ته د خلعې په بدل کې د ګټې اخیستلو لپاره ورکوي ، ښځه د ټاکلي شي په تسلیمولو مکلفه ده او خلعه صحیح دي . (۲۱) ج ۳ ص ۱٤۷

اول مطلب : خلع په رضاع باندې

د خلعې په بدل کې د خاوند ماشوم ته د شیدو ورکول : که چیرته یو سړی د ښځې سره په دې شرط خلع وکړي چې په بدل کې به د شرعي رضاعت تر مودې پورې دمیره ماشوم ته شیدې ورکوي خلع صحیح ده ځکه مور کولای شي چې د میړه څخه د خپل بچي د شیدو ورکولو په مقابل کې اجوره واخلي و د الله جل جلاله حکم دی ( فان ارضعن لکم فاتوهن اجورهن ) (۱)سورة طلاق آیت ۷.

ژباړه بیا که هغوی ستاسي لپاره (ماشوم ته) تې ورکړي نوهغوي ته به دهغو اجوره ورکړي .(۲۷)ج ٥ ص۸۲۰

که په دغه حالت کې ماشوم مړ شي یا ښځه مړه شي او یا چې ښځه ماشوم ته له تې ورکولو انکار کړي ، نو میړه کولای شي چې د ښځې څخه د رضاع د لازمې مودې دا جوري د قیمت غوښتنه وکړي ،او په هغه صورت کې چې څه موده تې یې ورکړي وي ، خو د رضاع موده لانه وي پوره شوي ، ښځه مړه شي او یا ماشوم ته له تې ورکولو څخه ځان وژغوري نو میړه کولای شي

ketabton.com - The Digital Library

چي د پاتي مودي اجوره او پاتي نفقه وغواړي ، مګر دا چي د خلعي په وخت کي د ښځي سره د طفل يا د ښځي د و فات په صورت کي د نه غوښتني موافقه شوي وي ، نو سړي باندي په خپل شرط ودريدل لازم دي . (۲۱) ج ۳ ص ۱۴۷

د افغانستان د مدني قانون په ۱۶۹ مه او ۱۷۰ مه ماده کي يي دا موضوع داسي بيان کړي :

۱۶۹-ماده . که طفل د شيدو ورکولو يا ساتني اجوره د نفقي په شمول په يوي ټاکلي مودي کي د ښځي له خوا د خلعي بدل قبول شي ، ښځه د خپل تعهد په تر سره کولو مکلفه ده .

۱۷۰- مه ماده . که ښځه په يو علت لکه د بل سړي سره ازدواج ، فرار يا د طفل مرګ يا پخپله د هغي مرګ خپل تعهد د شيدو ورکولو ساتني او د طفل د نفقي په باره کي پوره تر سره نه کړي ، ميړه کولي شي د رضاع د مودي اجوره او پاتي نفقه وغواړي ، مراد چي د خلعي په وخت کي د ښځي سره ، د طفل يا د ښځي د وفات په صورت کي د نه غوښتني موافقه شوي وي .(۲۳) ج۱ص۴٤

**دوهم مطلب** : په معلومه موده کي دماشوم په کفالت اوسرپرستي باندي خلع کول:

بي له اوجوري اخستلو څخه په معلومه موده کي دماشوم په سرپرستي کولو سره د ښځي خلع صحيح کيږي .

امام شافعي رحمة الله عليه فرمائي خلع تر هغي نه صحيح کيږي تر څو پوري چي د ماشوم موده د رضاعت او د طعام اندازه او جنس ذکر نه کړي ، او همدارنګه اندازه د مداومت او جنس د همدي طعام چي تر څو پوري به يي ورکوي دغه اندازه به ذکر کوي او د حضانت د مودي قيمت به داسي معلوموي لکه څنګه چي په بيع سلم کي مسلم فيه معلومه وي .(۲٦)ج ۷ ص ٦٥

د دي مسلي اختلاف په اجوره نيولو داجير په طعام يا د هغه په لباس باندي بنا ده ځکه شوافع د اجير د اجوري تعين کول واجب بولي ، او د رسول الله صلي الله عليه وسلم پدي حديث باندي دليل

ketabton.com - The Digital Library

نيسي . (عن ابي سعيد الخدري قال : نهي رسول الله صلي الله عليه وسلم عن استجار الا جير حتي يبين له اجره ) (١٥) ج ٣ ص ٧١

يعني : منع کړي نبي صلي الله عليه وسلم د مزدور نيولو څخه تر دي چي د هغه مزد معلوم کړي.
او جمهور علما د اجير د اوجوري تعين واجب نه بولي د مسلمانانو د عرف او استحسان له وجهي او همدارنگه په دي قول د نبي کريم صلي الله عليه وسلم استدلال کوي :
عن علي بن رباح قال : سمعت عتبة بن الندر قال کنا عند رسول الله صلي الله عليه وسلم فقراسورة (طس) حتي بلغ قصه موسي فقال : موسي اجر نفسه ثماني سنين او عشر سنين علي عفة فرجه و طعام بطنه .(٢٠) ج ٣ ص ٥١١

يعني د علي بن رباح نه روايت ده چي عتبه بن الندر وويل مونږ وو د نبي صلي الله عليه وسلم سره سورة (طس) يي تلاوة کړو تر دي چي د موسي عليه السلام قصي ته ورسيده ، وويل موسي عليه السلام ځان مزدور کړي وه اته کاله يا لس کاله د خپل شرمگاه په ساتنه او د خيټي په طعام باندي .

که چيرته ښځه ماشوم پريږدي يا وتښتي يا ماشوم مړ شي نو په ښځه باندي د باقي مودي اجر مثل واجبيږي .

## دريم مطلب: خلع په نفقه د صغير باندي

د احنافو او مالکيه و په نزد باندي که چيرته ښځه له خپل خاوند سره پدي خلع وکړي چي دغه ښځه به د صغير نفقه تر معلومي مودي پوري ورکوي نو دغه خلع صحيح ده او په ښځه باندي په دغه موده کي د ماشوم نفقه لازمه ده که چيرته يي د نفقي له ورکولو څخه منع راوړه او يا مړه شوه يا ماشوم د وخت له پوره کيدو څخه مخکي مړشو نو په ښځه باندي د باقي مودي د نفقي مثل لازميږي ،او نفقه له هغه چا اخستل کيږي چي له ښځي څخه پاتي وي .
که چيرته پدغي ښځي باندي تنگسيا راغله نو ميره به د ماشوم نفقه ورکوي لکن که چيرته په

ketabton.com - The Digital Library

ښځې باندي بيرته اساني راغله نو ښځه به په نفقي ورکولو باندي بيرته رجوع کوي .

مالکيه وائي: که چيرته ښځه حامله وي د حمل تر وخت پوري د خپل نفس په نفقه باندي خلع وکړي نو دماشوم نفقه له ميړه څخه نه ساقطيږي .(۲۹) ج ۷ ص ۵۰۱-۵۰۲

**ځلورم مطلب** : خلع کول په پاتي کيدو د ماشوم تر بلوغ پوري :

کله چي ښځه د خپل ميړه سره پدي باندي خلع وکړي چي ماشوم به تر بلوغ پوري له ماسره وي نو دغه خلع صحيح کيږي .

لکن د احنافو په نزد شرطيکښي صحيح نده ځکه چي د سرپرستي د مودي څخه وروسته حق د ماشوم په پلار باندي وي نه په مور باندي خو که د ماشومي د بلوغ تر حالت پاتي کيدو باندي خلع وکړي نو خلع صحيح کيږي ، پدي دواړو حالتونو کي شرط اوفرق دا ده چي ځوي د سرپرستي د وخت څخه وروسته خپل پلار ته محتاج وي او له مور څخه د خپل ځوي په تربيه باندي زيات قادر وي، لکن لور د خپلي مور لارښوني او تعليم ته ضرورت لري او مور پدي باندي له پلار څخه زياته قادره وي . د امام مالک رحمة الله عليه په نزد د ځوي پاتي کيدل تر بلوغ پوري له مور سره جواز لري ځکه د ځوي د سرپرستي موده د دوي په نزد تر بلوغ پوري ده و او د لور د سرپرستي موده د هغي د نکاح ورکولو پوري ده .(۲۹) ج ۷ ص ۵۰۱

**دريم مبحث** : هغه شيان چي د خلعي بدل نه شي تاکل کيدي :

۱- شراب او خنزير :

شراب او خنزير د خلعي بدل نشي تاکل کيدي ، ځکه دغه دواړه شيان د مسلمانانو په حق کي مال نه ګڼل کيږي ، که سړي د ښځي سره په دغه شيانو خلعه وکړي او ښځي ورسره ومنله بدل (عوض ) باطل دي ، او بي له عوضه باين طلاق واقع شو د احنافو په نزد په ښځه هيڅ مال نه لازميږي او نه به ښځه د خپل مهر څه شي ميړه ته ورکوي .

ketabton.com - The Digital Library

دليل يي دادي چي د خلعي طلاق د ښځي تر موافقي پوري معلق دي ، او دغه طلاق هم د عوض په مقابل کي واقع کيږي او هم بلاعوضه ، چي ميره هر کله طلاق د ښځي تر قبول پوري معلق کړو نو کله چي توافق د ښځي له لوري صورتونيوه طلاق واقع شو او په ښځه باندي هيڅ شي لازم نه شو ځکه چي خنزير او شراب مال متقوم نه دي نو د خلعي بدل هم نه شي کيدي. (۱۸) ص۴٦۲

۲- هر هغه شي يا عمل چي د ماشوم حقوق تلف کوي :

هر هغه شي يا عمل چي د ماشوم حقوق تلف کوي دخلعي بدل نه شي کيدي مثلا :يو ميره د خپلي ښځي سره د يو ماشوم هلک ساتنه چي د حضانت له مودي څخه اوځتي وي و د خلعي بدل وټاکي په دغه ډول عمل سره د ماشوم هلک حقوق تلف کيږي ، شارع د وړوکي ماشوم د ساتني حق د حضانت له مودي څخه وروسته د پلار لپاره ټاکلي دي ، نه د مور لپاره ، ځکه وړوکي ماشوم هلک د سړيو خويونو ، اخلاقو او ادابوته اړتيا لري ، که د مور سره د اوږدي مودي لپاره پاتي شي د ښځو خويونه‌او عادات اخلي او په دي سره ماشوم متضرر کيږي په همدي توگه که سړي د ښځي سره په داسي توگه د خلعي بدل وټاکي چي ماشوم هلک يا ماشومه جلي به د حضانت په موده کي د پلار سره وي ، که زوجين په دغي توگه يو د بل سره موافقه وکړي خلع صحيح او شرط باطل دي ، ځکه حضانت د ماشومانو حق دي او دغه حق هيڅوک نه شي ساقطولي ز(۳) ج ۲ ص ۷۸۲

مالکيه و ويلي دي ، د پلار لپاره جايز دي چي د حضانت حق ساقط او دخلعي بدل يي وټاکي ، که د پلار څخه مخکي هر څوک د حضانت حق لري ، پلار ته دغه حق انتقاليدي شي .

علامه دسوقي په دي شرط دغه حق پلار ته ورکوي چي ماشوم ته کوم ضرر متوجه نه وي ، که چيرته يو ماشوم د خپلي مور سره بي کچه مينه ولري او يا پلار د ماشوم د ساتلو صلاحيت ونه

ketabton.com - The Digital Library

لري ، که ماشوم ته پکي ضرر متوجه وي نو د حضانت دغه حق نه ساقطیږي او طلاق واقع کیږي او دا اتفاقي خبره ده .(۱۱) ج ۲ ص ۳٤۹

د افغانستان په مدني قانون کي همدي نظر ته ترجیح ورکړل شوي ده په دي هکله د مدني قانون ۱۷۳ مه ماده داسي حکم کوي :

(که د خلعي په وخت کي شرط شوي وي چي ماشوم دي د حضانت په دوره کي د میره سره وي ، د خلعي عقد صحیح او شرط باطل دي ، ښځه کولي شي چي ماشوم د حضانت د دوري د پوره کیدو پوري د خپل ځان سره وساتي ، خو پدي شرط چي دا حق په بل علت نه وي ساقط شوي ) (۱۰) ج ۲ ص ٤٦

د حضانت د دوري څخه وروسته فقهاو د وړي ماشومي او وړوکي ماشوم د ساتني موضوع ګاني سره بیلي کړي دي ، دوي وایي مورکولي شي چي وړه ماشومه جلي د حضانت د دوري څخه وروسته تر بلوغ پوري د ځان سره وساتي ، ځکه د مور سره په پاتي کیدو هیڅ ضرر ورته نه رسیږي ، بلکي زیاتي ګټي ورته رسیږي ، که څه هم د حضانت په موضوع کي پلار زیات قدرت لري ، خو قاضي کولاي شي چي په کوم ځاي کي د ماشومي ښیګڼه ویني هلته یي پاتي کړي .

د احنافو د نظر سره سم د مدني قانون ۱۷۲ مه ماده پوره په وضاحت سره دا موضوع روښانوي او حکم کوي :

(ښځه هغه وخت کولي شي چي د ماشوم ساتنه د بلوغ تر عمره پوري د خلعي بدل وټاکي چي ماشوم جلي وه ،که ښځه د مودي په اودو کي د بل سړي سره ازدواج وکړي ، د جلي پلار کولي شي چي خپله لور د ښځي څخه تسلیم شي او د ساتني د پاتي مودي د اجوري معادل وغواړي ، که څه هم تر مخه موافقه شوي وي چي ماشوم دي د مورسره وي . ) (۲۳) ج ۱ ص ٤٦

ketabton.com - The Digital Library

## ځلورم مبحث : د طلاق بالمال او خلعي تر منځ توپيرونه

طلاق بالمال او خلع په ځينو حالاتو کي مشترک او په ځينو کي مختلف احکام لري :

۱- په لاندي احکامو کي طلاق بالمال او خلع يو شي دي :

الف : په خلعه او طلاق بالمال کي د ښځي رضا شرط ده .

ب: کله چي بدل ثابت شي باين طلاق واقع کيږي او سمدستي بيلتون رامنځته کيږي .

ج: که ښځه د مال د بخشش کولو اهليت ولري بدل په دواړو حالاتو کي د ښځي په زمه لازميږي .
(۹) ج ۵ ص۴۳

۲- په لاندي مواردو کي طلاق بالمال او خلع مختلف احکام لري :

الف: په طلاق بالمال سره اتفاقاً باين طلاق واقع کيږي او د طلاق په شمير کي د ميړه واک راکموي ، خو خلع کي اختلاف د ي ځيني يي طلاق او ځيني يي فسخه ګڼي .

ب: خلع د هغي په صريح لفظ يا بل هر لفظ چي د خلعي مفهوم افاده کړي صورت نيسي او طلاق بالمال د طلاق په صريح لفظ يا په داسي لفظ سره چي د طلاق معني ولري لکه (حرام ) او داسي نور ...... صورت نيسي

ج : د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په نظر په خلع کي يو پر بل د زوجيت حقوق ساقطيږي خو طلاق بالمال له د غو حقوقو څخه هيڅ هم نه ساقطوي.

د اما م مالک رحمة الله عليه او امام شافعي رحمة الله عليه په نزد طلاق بالمال او خلعي تر منځ هيڅ فرق نشته ځکه د دوی په نظر خلعه او طلاق بالمال يو شي دي ، خو کله کله خلع بلا غوضه هم وي . (۱۸) ص ۴۷۳

په خلع کي د فقهاو اختلاف دي چي خلع فسخه ده او که طلاق باين نو د جمهورو (ابو حنيفه ، امام مالک و ظاهر قول د امام شافعي او يو روايت د امام احمد ) په نزد طلاق باين ده چي د طلاق د

ketabton.com - The Digital Library

جملي څخه حسابيږي ، او د امام احمد په بل روايت کي دا فسخ ده او د طلاق د جملي څخه نه حسابيږي .

او هر چه طلاق په مال باندې ده په دي کي هيڅ اختلاف نشته او د جمهورو په نزد دا طلاق باين ده او د طلاق د جملي څخه حسابيږي . (۲۹) ج ۷ ص ٥٠٤

ketabton.com - The Digital Library

# "څلورم فصل"

## اثار او نتايج د خلعي

### اول مبحث : اثار د خلعي

په خلع باندي لاندي اثار مرتبيږي :

۱- د احنافو مالكيانو يو قول د امام احمد او راجح قول د امام شافعي رحمة الله عليه كي په خلعي سره باين طلاق واقع كيږي اگر كه بيدون له نيت او عوض څخه وي ، استدلال كوي پدي قول دالله (جل جلا له ) ( فلا جناح عليهما فيما افتدت به ) (۱) سورة بقرة آيت ۲۲۹

ژباړه : نو دهغو دواړو په منځ كي د دي خبري باک نشته چي ښځه خپل ميره ته يو څه بدل وركړي او ځان ورڅخه بيل كړي . (۲۷) ج ۱ ص ۲۲۹

فديه په هغه وخت كي وي كله چي ښځه د خاوند د سلطي څخه ووځي او كه خلع باين طلاق نشي نو سړي د رجعت خاوند گرځي او پدي صورت كي ښځه د ميره د حكم او قبضي لاندي راځي او په خلعي سره مقصد لري كول د ضرر دي له ښځي نه كه رجعت ته جواز وركړو نو ضرر بيرته رجوع كوي .

او امام احمد رحمة الله عليه په نزد په بل روايت كي خلع فسخ ده او همدا نظر د ابن عباس رضي الله عنه طاوس رضي الله عنه عكرمه ، اسحق او ابي ثور هم دي . په لاندي ايتونو استدلال كوي . (الطلاق مرتان ) يعني:طلاق دوه ځلي دي.(۲۷)ج ۱ص ۲۲۸

بيا الله جل جلا له فرمايي: ( فلا جناح عليهما فيما افتدت به ) يعني نو د هغو دواړو په منځ كي د دي خبري باک نشته چي ښځه خپل ميره ته يو څه بدل وركړي او ځان ورڅخه بيل كړي . (۲۷) ج ۱ ص ۲۲۹

په بل ځاي كي الله جل جلا له داسي فرمايي:(فان طلقها فلا تحل له من بعد حتي تنكح زوجا غيره)

ketabton.com - The Digital Library

يعني :

الله جل جلا له په لمړي ايت کي د دو طلاقونو په دوهم آيت کي د خلعي او په دريم آيت کي يي د بل طلاق ذکر وکړو کچيري خلع هم طلاق وي نو بيا د طلاق تعداد څلوروته رسيده چي دا څلورم هغه طلاق ده چي وروسته له دوهم ميره څخه د طلاق اخستلو په صورت کي ښځه دوباره اول ميره ته روا کيږي ، ځکه چي خلع داسي جدائي ده چي خالي ده د طلاق د صريح الفاظو او نيت څخه او دا فسخ ده د نورو فسخو په شان .

لکن د امام احمد رحمة الله عليه په راجح قول کي تفصيل موجود د ي: دوي وايي چي خلع باين طلاق دي کله چي په لفظ د خلعي ، مفاداة او يا داسي نورو الفاظو سره وي او يا په کناياتو د طلاق سره واقع شي او نيت يي د طلاق کړي وي ، ځکه چي دا کنايه ده او نيت يي هم پدي سره د طلاق کړي دي نو خلع طلاق دي . خو که د خلعي ، مفداة يا فسخي په صيغي سره واقع شي او نيت د طلاق يي هم نه وي کړي پدي صورت کي د طلاق عدد پدي سره نه کميږي او دا طلاق هم نده بلکي فسخ ده ، او مباراة : لکه چي يو سړي خپلي ښځي ته ووايي زه ستا د نکاح څخه د زرو روپيو په مقابل کي بيزاريم او ښځه يي قبوله کړي دا کنايه لفظ ده چي د حنابله ؤ په نزد پدي سره د نيت د موجوديت په صورت کي خلع واقع کيږي ، لکن د احنافو په نزد د هغي خلعي په شان ده چي په هغي سره باين طلاق بي له نيته واقع کيږي .

د مالکيه ؤ په راجح قول کي کچيري سړي خپله ښځه طلاقه کړي او هغي ته مال ورکړي دا خلع نده بلکي دا رجعي طلاق دي ، ځکه دا په منزله د هغه ده چي څوک خپله ښځه طلاقه کړي او هغي ته متعه ورکړي .

۲- د قاضي په قضا باندي خلعه نه متوقف کيږي لکه څنکه چي د هر يو طلاق حکم د خاوند لخوا وي .

ketabton.com - The Digital Library

۳- په فاسدو شروطو سره خلع نه باطلیږي ، کچیرته میره له خپلي ښځي سره پدي شرط خلع وکړي چي د حضانت د مودي له ختمیدو مخکي به ماشوم ماته سپاري ، او یاښځه پدي شرط له میره سره خلع وکړي چي ماشوم به د حضانت د مودي وروسته هم د ماسره وي اگر که ښځي له داسي شخص سره نکاح هم وکړي چي د ماشوم نږدي محرم نوي، نو دغه ذکرشوي ټول باطل دي خو بیا هم خلع نافذیږي .

٤- په ښځه باندي د خلعي د بدل ورکول لازم دي :

برابره خبره ده که دغه عوض مهر وي یا دمهر بعضي حصه وي یا یو بل شي وي ځکه چي میره د ښځي طلاق په قبول د بدل سره معلق کړي اوښځه پري راضي شوي نو دا د ښځي په ذمي باندي د علماؤ په اتفاق سره لازمیږي .

٥- د امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد په خلعي سره ټول حقوق اوقرضونه ساقطیږي کوم چي د زوجینو یو پربل باندي وي ، او هغه حقوق چي تر هماغه عقد پوري تړاو ولري چي خلع پکي راغلي ده لکه مهر یا پخواني نفقه ځکه چي دخلعي مراد د منازعي او خصومت د زوجینو تر منځ له منځ وړل دي .

لکن هغه حقوق او قرضونه چي یود زوجینو پر بل باندي وي او د نکاح په موضوع پوري مربوط نوي لکه قرض ، گرو ،ودیعه ، د مبیعی پیسي یا داسي نور په اتفاق د علما ؤ سره نه ساقطیږي همدارنگه دعدة د وخت نفقه نه ساقطیږي مگر په هغه وخت کي دعدت د وخت نفقه ساقطیږي چي د نفقي د نه ورکول زوج شرط کړي وي ، ځکه چي نفقه د خلعي په وخت کي واجب ده .

د جمهورو او امام احمد رحمة اللله علیه په نزد د زوجینو د حقوقو څخه هیڅ شي نه ساقطیږي مگر په هغه صورت کي چي د هغه په ساقطیدو یي صراحت کړي وي برابره خبره ده چي د خلعي په لفظ سره وي او یا د مباراة په لفظ سره ، دا کاملا داسي ده لکه طلاق د مال په مقابل کي چي پدي سرهباین طلاق واقع کیږي ، او پدي سره یوازي هغه عوض لازمیږي کوم چي زوجینو اتفاق پري کړي وي ، ځکه چي حقوق نه ساقطیږي مگر په هغه څه چي هغه په قطعي توگه د حقوقو په ساقطیدو دلالت وکړي او په خلع کي د حقوقو په ساقطیدو ثابت دلیل نشتهٔ ځکه چي دا د

ketabton.com - The Digital Library

ښځي له طرفه عوض ده او معاوضات تاثير نه کوي غير له هغه څه نه چي دواړه طرفه پري راضي وي . ځکه چي حق نه ساقطيږي مګر په صراحتاً يا دلالتاً ساقطيدو سره .

٦- ايا په مختلفه باندي طلاق واقع کيږي ؟

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وايي چي په مختلفه ښځه باندي طلاق واقع کيږي که فوراً وي او که په تراخي سره . او جمهور علما وايي چي هغي ښځي سره چي خلع شوي وي په هغي طلاق نه واقع کيږي ، مګر امام مالک رحمة الله عليه وايي که کلام پيوست وي واقع کيږي او که متصل نه وي نه واقع کيږي .

امام شافعي او امام احمد رحمة الله عليه فرمايي چي په خلع پسي طلاق نه واقع کيږي اګر که کلام متصل وي دوي وايي چي په مختلعه باندي په هيڅ وخت کي طلاق نه پيوست کيږي .

جمهور د ابن عباس او ابن زبير په قول دليل نيسي: په مختلعه باندي طلاق نه ملحق کيږي ، او خپل خاوند ته هم نده جائز مګر په نوي نکاح سره . اختلاف په مابين د ابو حنيفه او جمهورو کي پدي کي دي چي د ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد عدت د نکاح داحکامو څخه ده نو په مختلعه باندي په عدت کي طلاق ملحق کيږي او جمهور وايي چي عدت له احکامو د طلاق ځيني دي نو لهذا په مختلعه باندي طلاق نه ملحق کيږي .

٧- د اکثرو علماؤ په نزد مختلعه باندي په عدت کي رجعت نشته :

برابره خبره ده که خلع فسخ وي او که طلاق وي له وجي ددي قول د الله تعالي ( فيما افتدت به ) او فديه په هغه وخت کي لازميږي کله چي ښځه په هغي سره د سړي له قبض او تصرف څخه خارجه شي ، که چيري ښځي ته د رجعت حق وي نو بيا به دغه ښځه بيرته د خاوند تر حکم لاندي راځي ، او مراد له خلعي څخه د ښځي نه د ضرر لري کول دي که چيرته د ښځي رجوع جائز شي نو ضرر بيرته راګرځي .

ketabton.com - The Digital Library

اکثرو علماو اجماع کړي چې سړي د مختلعي ښځي سره د هغي په رضا سره په عدت کي نکاح کولای شي ، لکن د بعضي متاخرينو په نزد باندي نه ميره او نه بل څوک په عدت کي د هغي سره نکاح کولای شي يعني د دوي په نزد د عدت تر پوره کيدو له هغي سره هيڅوک نکاح نشي کولای .

۸- په خلع او د هغه په عوض کي اختلاف

کچيرته ښځي د خلعي دعوي وکړه او ميره ورڅخه انکار وکړ او ميره لره شاهدان نه وي نو سړي په قسم سره تصديق کېدي شي ځکه اصل د نکاح بقا او عدم خلع د ه . او شهادة پدي کي د شوافعو په نزد د دوکسانو ګواهي ورکول دي .

که ميره ووايي چي ته مي په زرو روپيو باندي طلاقه کي يي او ښځه ووايي چي زه دي بيدون د عوض څخه طلاق کړي يم او يا ووايي چي زه دي طلاق کړي نه يم په دي صورت کي د خاوند په قول باين طلاق واقع کيږي او د ميره لپاره په ښځي باندي عوض نشته خو په هغه وخت کي چي ښځه په نفي کولو د مال قسم وکړي . پدغه صورت کي جدائي د اقرار له وجي منځته راځي او د عوض نه لازميدل د دي اصل په وجه چي اصل برات د ذمي دي ليکن ښځي ته په ميره باندي نفقه ، کسوه (جامي ) او کور د عدت په وخت کي لازم دي .

که چيرته زوجين د عوض په جنس کي اختلاف وکړي چي هغه دراهم د ي او که دنانير او يا اختلاف په اندازه دعوض کي وي چي خاوند ووايي په زرو روپيو مي درسره خلع کړي او ښځه ووايي چي پنځو سو و مي درسره خلع کړي ، اويا په عدد د طلاق کي اختلاف راشي کوم کښي چي خلع واقع شوي لکه داقول د ښځي له تا نه مي د زرو روپيو په بدل کي دري طلاقه وغوښتل او ميره ووايي چي يو طلاق مي په زرو روپيو درکړي او د يو لپاره هم شاهد نوي ، نو امام مالک رحمة الله عليه فرمايي چي د زوج قول اعتبار لري که چيري شاهد نوي ځکه چي ښځه

ketabton.com - The Digital Library

مدعي عليها ده او ميره مدعي دي . او امام شافعي رحمة الله عليه فرمايي چي دواړه دي قسم وخوري لكه په بيع كي ، او په ښځه باندي مهر مثل ده ځكه د دوي دواړو اختلاف داسي ده لكه د متبا يعينو . (۲۹) ج ۷ ص ٥٠٤-٥٠٨

دوهم مبحث :د مختلعي ښځي عدت

د مختلعي ښځي عدت ثابت دي په سنتو چي مختلعه به يو حيض عدت تيروي ، چه په قصه د ثابت بن قيس كي راغلي ، نبي صلي الله عليه وسلم وفرمايل هغه مال ورځخه واخله چي ستا په هغي باندي دي اولاره يي پريږده نو ثابت بن قيس دا كار وكړ او نبي صلي الله عليه وسلم ورته امر وكړچي هغه دي يو حيض عدت تير كړي او بيا دي بيرته له خپل اهل سره پيوسته شي .
دا مذهب د عثمان رضي الله عنه ، ابن عباس رضي الله عنه او صحيح روايت د امام احمد رحمة الله عليه ، اسحق بن راهويه او شيخ الاسلام ابن تيميه هم غوره كړي دي او فرمايي د چا چي همدا نظر وي په تحقيق سره هغه د شريعت د مقتضي قواعد ومونده ، او د مطلقي لپاره چي عدت دري حيضه دي ددي لپاره چي د رجوع زمانه اوږده شي تر څو چي خاوند د عدت په موده كي رجوع وكړي او داچي په مختلعي باندي رجوع نشته نو لدي څخه مقصد د مختلعي درحم پاكوالي دي له حمل ځيني پدي صورت كي يو حيض هم كفايت كوي لكه څنګه چي په استبرا درحم كي يو حيض كفايت كوي .

ابن القيم رحمة الله عليه فرمايي چي همدا نظر د امير المومنين حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه ، عبدالله بن عمر رضي الله عنه ربيع بنت معوذ او تره يي چي د كبار الصحابه و له جملي څخه دي ، چي لدي څلورو صحابه و له جملي څخه يو هم لدي نه مخالفت نه دي كړي لكه څنګه چي ليث بن سعد له نافع مولي دابن عمر رضي الله عنه څخه روايت كوي چه ده له ربيع بنت معوذ بن عفرا څخه چه عبداله بن عمر ورته خبر وركړ چي ده له خپلي ښځي سره خلع وكړه د

ketabton.com - The Digital Library

عثمان بن عفان په زمانه کې نو تره يې حضرت عثمان رضي الله عنه ته راغي او ورته يې وويل د معوذ زوي نن له خپلې ښځې سره خلع وکړه هغه دي خپلې کورنی ته ولاړه شي ؟
نو عثمان رضي الله عنه او فرمايل چې هغه دي خپلې کورنی ته لاړه شي او د دوي ترمنځ ميراث نشته ، اومدت هم ه ښځه باندي نشته خو تر هغې پوري نکاح نشي کولاي تر څو چې يو حيض وربانديي نه وي تير شوي له دي ويري څخه چه حامله نه وي .نو عبداله بن عمر رضي الله عنه وفرمايل چې عثمان رضي الله عنه زمونږ څخه غوره او پوه دي . او همدارنگه ابې جعفر النحاس په خپل كتاب الناسخ و المنسوخ کې داسي نقل کړي چې پدي باندي د صحابوو اجماع ده .
جمهور علما وايي چې د مختلعي عدت دري حيضه دي دا په هغه صورت کې چې ښځه حيض والا وي .(۱۳) ج ۲ ص ۲۷٤

ketabton.com - The Digital Library

ا

(خاتمه)

دبښونکي او مهربانه څښتن په ځانګړي لورینې سره ددې لیکنې تر بشپړیدو پوري یو شمیر نتایجو ته ورسیدم چې په لاندې توګه دي:

۱:تعریف : خلع په لغت کې جداکولو ته وائي او همدارنګه په اصطلاح کې دنکاح د عقد له مینځه وړل دي په اخیستلو د مال سره .

او دخلعې حکم خلع په اتفاق د علماوو سره جواز لري اوپه همدې ډول هغه الفاظ چې دخلع عقد ورباندې منعقد کیږي عبارت دي له:

الف:خلع ب:مبارات

ج:طلاق د:مفارقه و:بیع او شرا

پدې الفاظو سره داحنافو په نزد خلع صحیح کیږي.

البته د خلع په الفاظو کې اختلاف دي او دنورو علماوو لکه امام مالک(رح)په نزد د خلع الفاظ دادي ۱:خلع ۲:مبارات ۳:صلح ۳:فدیه

او همدارنګه دامام شافعي(رح)او حنابله ؤپه نزد خلع دطلاق په لفظ سره صراحتاً او کنایه دنیت د موجودوالي په صورت کې صحیح کیږي.

دخلعې ارکان دجمهورو علماوو په نزد دخلع ارکان پنځه دي۱:القابل ۲:الموجب ۳:العوض ٤:المعوض ٥:صیغه دخلعې

ketabton.com - The Digital Library

داحناف په نزد خلع کي ايجاب او قبول اعتبار لري.

۲:دخلعي کيفيت يعني هر هغه څه چه خلع ورباندي مرتب کيږي خلع د امام مالک(رح)امام شافعي رحاو همدارنگه د حنابله ؤپه نزد د عوض څخه عبارت دي د خلعي دصحت لپاره د عوض قبضول ضروري ندي او دعيب له وجهي د عوض ردول جائز دي.

دخلعي شروط اطلاق که څه هم د خاوند په خوښه واقع کيږي ليکن خلع کي د ښځي او خاوند يعني دواړو رضايت شرط دي او دغه عقد په ايجاب او قبول سره ترل کيږي دا چي هر عقد او تړون ځانګړي شرايط لري نو خلع هم په لاندي شرايطو ترسره کيږي الف:خاوند بايد عاقل اوبالغ وي ب:ښځه بايد د طلاق محل وي ج:خلع بايد په داسي الفاظوترسره شي ځه د خلعي معني افاده کړي د:ښځه دخلعي بدل په ځان ومني.

دخلعي انواع ،خلع په دوه قسمه ده ۱:چه ښځي خاوند ته عوض ورنکړي ۲:چه ښځه خاوند ته د خلع په بدل کي مال ورکړي او همدارنگه خلع د ولي ماشوم،مريض،سفيه لخوا صحيح کيږي په خلع کي دنورو عقدونو په شان ښځه او ميړه کولاي شي چه وکيل ونيسي.

دفضلولي سړي دخلع حکم دفضلي سړي خلع څلور صورته لري چه په دوه صورتونو کي دخلع عقد دښځي تر قبلولو پوري موقوف ده او په دريم صورت کي ددريم شخص تر قبلولو پوري موقوف ده او په څلورم صورت کښي دخاوند تر قبلولو پوري موقوف ده.

په خلع باندي دعوض اخيستلو حکم په اتفاق د علماوو سره په په خلع باندي دعوض اخيستل جواز لري .او همدارنگه خلع په مقابل دبعضي منافعو او حقوقو کي هم صحيح کيږي لکه خلع په رضاع ،خلع په معلومه موده کي دماشوم په کفالت او سرپرستي سره ،خلع په نفقه د صغير

ketabton.com - The Digital Library

باندي . او ځيني شيان دي چه د خلع بدل نه شي کيداي لکه شراب او خنزير يا هر هغه شي يا عمل چه دماشوم حقوق تلف کوي .

د طلاق بالمال او خلع تر مينځ توپير: د طلاق بالمال او خلع تر منځ توپير موجود دي اثار او نتايج د خلع په خلع باندي لاندي نتايج مرتب کيږي

۱:داحنافو،مالکيو يو قول دامام محمد او راجع قول د امام شافعي رح دي ،چه وايي په خلع سره بائن طلاق واقع کيږي اگر که بدون له نيت او عوض څخه وي

۲:د قاضي په قضا باندي خلع نه موقوف کيږي

۳:په فاسد و شروطو سره خلع نه باطليږي

٤:په ښځه باندي بدل ورکول لازم دي

٥:د امام ابو حنيفه رح په نزد په خلع سره ټول حقوق او قرضونه ساقطيږي کوم چه دزوجينو پر يو بل باندي وي .

لاکن هغه حقوق او قرضونه چه يو د زوجينو پر يل باندي وي . او دنکاح پر موضوع پوري مربوط ندي لکه قرض،گرو،وديعه،دمبيعي پيسي او داسي نور په اتفاق د علماوو سره نه ساقطيږي.

دجمهورو او امام محمدرح په نزد دزوجينو د حقوقو څخه هيڅ شي نه ساقطيږي مگر په هغه صورت کښي چه د هغه په ساقطيدوئي صراحت کړي وي.

٦:امام ابوحنيفه رح : په مختلعه ښځه باندي طلاق واقع کيږي که فورا وي او که په تراخي سره او د جمهورو په نزد نه واقع کيږي .

ketabton.com - The Digital Library

۷:داکثرو علماؤ په نزد په مختلعه باندي په عدت کي رجعت نشته .

۸:يو تعداد صحابه وايي چه د مختلعي شخي لپاره يو حيض عدت دي ، او د جمهورو په نزد د مختلعي لپاره دري حيضه عدت دي.

والحمد لله رب العالمين والصلوت والسلام علي رحمت للعالمين.

محمدشريف

ketabton.com - The Digital Library

## دماءخذونواو مراجعوفهرست


١- قرآن الكريم
٢- ابن اشعث ، الامام ابوداود سليمان السجستاني ، سنن ابي داود ، دارالكتب العربي ، بيروت
٣- ابن رشد ، ابوالوليد محمد بن احمد بن محمد بن احمد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد ، المتوفى : ٥٩٥ هـ ، بداية المجتهد ونهاية المقتصد ، الطبعة الرابعة : ١٣٩٥هـ - ١٩٧٥م ، مطبعه المصطفي البابي الحلبي ، مصر
٤- ابن عابدين ، خاتم المحققين محمد امين مشهور بابن عابدين ، حاشيه ردالمختار المطبعة العثمانيه
٥- ابوزهره ، الامام محمد الاحوال الشخصيه
٦- بهوتي ، منصور بن يونس بن ادريس ، المتوفي : ١٠٥٠هـ ، كشاف القناع عن متن الاقناع ، دارالفكر ، بيروت
٧- ترمذي ، الامام العلامه ابي عيسى محمد بن عيسى بن سورة ، سنن ترمذي مكتبه حقانيه ، محله جنگي ، بشاور
٨- جورجاني ، علي بن محمد علي ، التعريفا ت
٩- جواد علي ، دكتور جوادعلي ، تاريخ قبل الاسلام
١٠- دردير ، ابوالبركات سيدي احمد ، الشرح الكبير على مختصر الخليل
١١- دسوقي ، الشيخ محمد بن محمد ، حاشيه اللد سوقي على شرح الكبير
١٢- سرخسي ، ابي بكر محمد بن احمد ، متوفي: ٤٩٠هـ ، مبسوط ، مكتبة الغفاريه ، ١٤٢١هـ ، كويته پاكستان
١٣- سيدسابق ، المتوفى : ١٤٢٠هـ ، فقه السنه ، طبعه الثامن : ١٤٠٧هـ دارالكتاب العربي
١٤- سيواسي ، كمال الدين محمد بن عبدالواحد ، فتح القدير ، مطبعه مصطفي محمد باالقاهره
١٥- شيباني ، الامام احمد بن احمد بن حنبل ابوعبدالله ، المتوفي :١٤٦١هـ مسند للامام احمد بن حنبل ، دارالصادر ، بيروت
١٦- صنعاني ، محمد بن اسماعيل ، سبل السلام شرح البلوغ المرام ، دارالنشر الكتب العربي ، بيروت
١٧- طبراني ، ابوالقاسم سليمان بن احمد ، المعجم الاوسط ، ناشر : دارالحرمين قاهره

ketabton.com - The Digital Library

١٨- غندور ، دكتور احمد ، الاحوال الشخصيه في التشريح الاسلامي
١٩- فيروز آبادي ، شيخ الامام ابن اسحاق ابراهيم ابن علي ابويوسف الشيرازي المهذب في فقه الامام الشافعي
٢٠- قزويني ، ابي عبدالله محمد بن يزيد ابن ماجه ، طبعة ابي المعاطي
٢١- كاساني ، علاء الدين ابي بكر بن مسعود ، بدايع صنايع في ترتيب الشرايع بيروت لبنان ، الطبعة الثانيه ، دارالكتب العربي ١٩٨٢م
٢٢- كبيسي ، استاد محمود مجيد بن سعود ، الصغير بن اهلية الوجوب واهليت الاداء
٢٣- مدني قانون ، طبعه فضل ، كابل افغانستان ، ١٣٨٣هـ
٢٤- مرغيناني ، برهان الدين ، الهدايه ، دهلي ، كتابخانه الرشيديه ، ١٣٥٨هـ
٢٥- معين ، دكتور محمد معين ، فرهنگ معين فارسي
٢٦- مغني ، شرح الشيخ محمد الشربيني ، مغني المحتاج إلى معرفة الفاظ المنهاج علي متن المنهاج للنووي ، مطبعه الحلبي ١٣٥٧هـ - ١٩٣٨م
٢٧- مودودي ، ابوالاعلي ، تفهيم القرآن ، پشتو شرح ، مولانا قيام الدين كشاف
٢٨- نفيسي ، دكتور علي اكبر ( ناظم الاطباء) ، فرهنگ نفيسي
٢٩- وهبه الزوحيلي ، دكتوروهبه ، الفقه الاسلامي وادلته ، الطبعة الثالث : ١٤٠٩هـ ، دارالفكر ، دمشق

ketabton.com - The Digital Library

دافغانستان اسلامي جمهوريت
دلوړو زده کړو وزارت
دننګرهار اسلامي پوهنتون
دشرعياتو پوهنځي
فقه او قانون څانګه

# په اسلامي شريعت کې د خلعې احکام

ليکونکي: محمد شريف
لارښود استاد: پوهندوي فاروق الله (خالقيار)

کال: ۱۳۸۹ هجري لمريز

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*